وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ

# فقه زکات

## احکام او معاصر مسائل

(کامل، آسان او مختصر)



مؤلف: حمدالله «شاکری»

وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ

# فقه زکات

## احکام او معاصر مسائل

(کامل ، آسان او مختصر)

تألیف :حمدالله "شاکري"


بسم الله الرحمن الرحيم

**لومړی فصل** ........................................ ٥

د زکات اهمیت او فضیلت ........................................ ٥

د زکات اهمیت ........................................ ٥

د زکات حکم ........................................ ٦

د زکات فضائل ، دنیوي او اخروي ګټې ........................................ ٧

د زکات نه ورکوونکو ته د خطرناکو پایلو خبرداریٔ ........................................ ١٥

د زکات د ادا کولو آداب ........................................ ١٨

**دوهم فصل** ........................................ ٢٤

د زکات د وجوب او صحت شرطونه ........................................ ٢٤

د زکات د وجوب شرطونه ........................................ ٢٤

د زکات د آدا کولو د صحت شرطونه ........................................ ٢٦

**دریم فصل** ........................................ ٣٢

د سرو زرو ، سپینو زرو او نغدو پیسو زکات ........................................ ٣٢

د سپینو او سرو زرو نصاب ........................................ ٣٢

د سرو او سپینو زرو نصاب د ګرام له نظره ........................................ ٣٣

د نغدو پیسو زکات او د هغه نصاب ........................................ ٤٠

**څلورم فصل ........................................................................ ٤٥**

د تجارتي مالونو زكات ........................................................................ ٤٥

**پنځم فصل ........................................................................ ٤٩**

د كرهنې زكات ........................................................................ ٤٩

د كرهنى زكات يا عشر ........................................................................ ٤٩

د كرهنې د زكات د وجوب شرايط ........................................................................ ٤٩

د كرهنې د زكات نصاب ........................................................................ ٥٠

په عسل (شاتو) باندې زكات شته ؟ ........................................................................ ٥٣

**شپږم فصل ........................................................................ ٥٦**

د خارويو زكات ........................................................................ ٥٦

په زكات كې څنګه خاروي وركول پكار دي؟ ........................................................................ ٦١

**اووم فصل ........................................................................ ٦٤**

د زكات مصارف ........................................................................ ٦٤

كومو كسانو ته د زكات وركول جواز نلري ؟ ........................................................................ ٧٠

**آتم فصل ........................................................................ ٧٣**

د فطر زكات (سرسايه) ........................................ ٧٣
الركاز (ميندل شوې خزانه) ........................................ ٧٧
**نهم فصل** ........................................ ٨٠
د زكات مسائل ........................................ ٨٠
د معاش د پيسو زكات څنګه ادا كيږي ؟ ........................................ ٨٠
د وقف د پاره جمع شويو پيسو كې زكات شته ؟ ........................................ ٨١
د تجارتي او دوراني پانګو د زكات حساب څنګه كيږي ؟ ........................................ ٨٢
د پور يا قرض زكات څنګه ادا كيږي ؟ ........................................ ٨٣
د كور اخيستلو د پاره جمع شويو پيسو باندې زكات شته ؟ ........................................ ٨٦
زكات د اولاد د واده مانع ګرځي ؟ ........................................ ٨٧
كچيرې د زكات مال هلاک شي ؟ ........................................ ٨٧
د استوګنې نه علاوه بل كور باندې زكات شته ؟ ........................................ ٩١
د زكات او مالياتو تر مينځ څه فرق دی ؟ ........................................ ٩٢
په سبزيجاتو كې عشر شته او كه نه ؟ ........................................ ٩٤
د مدرسې جوړولو لپاره زكات وركول جايز دي ؟ ........................................ ٩٧
خپل مزدور ته زكات وركول جايز دي ؟ ........................................ ٩٩
د زكات وركولو په وخت كې د زكات يادول ضرور نه دي ........................................ ١٠٠

خپل زوی او لور ته چې جلا اوسيږي زكات وركول جايز دي ؟. ١٠١
د زكات نه وركونكي سره كار كول جايز دي ؟ ........................... ١٠٤
د محتاجو خپلوانو ماشومانو ته د زكات او فطر وركول جايز دي
؟ ........................................................................................... ١٠٥
كه سهواً غني ته زكات وركړ شي زكات ادا كيږي ؟ .................... ١٠٧
د زكات ماهوار يا لږ لږ وركول جايز دى ؟ ............................... ١٠٨
قرض يا پور په زكات كې مجرا كول جايز دي ؟ ........................ ١٠٩
مأخذونه : ............................................................................. ١١١

# لومړی فصل

## د زکات اهمیت او فضیلت

### د زکات تعریف :

د زکات لغوي معنی ده پاکېدل ، زیاتېدل او وده کول او د شریعت په اصطلاح کې له زکات څخه مقصد هغه مالي عبادت دی چې هر د نصاب ښتن يې له خپل مال څخه د شریعت د ټاکلې اندازې سره سم د هغو خلکو لپاره باسي چې د شریعت له مخې د زکات اخیستلو مستحق وي .

### د زکات اهمیت

زکات د اسلام دریم رکن دی چه ډیر یو اهم عبادت دی په قرآنکریم کې ډیر ځایه لمونځ او زکات یو ځای ذکر شوي دي. چه دغه دواړه عبادتونه د ټول دین ترجماني کوي ، په بدني عباداتو کې لمونځ د ټول دین نمایندګي کوي او په مالي عباداتو کې زکات د ټول دین نمایندګي کوي .

زکات په ټولنه کې د بی وزلی او فقر پر وړاندې تر ټولو غوره وسیله ده ، د زکات په اداء سره په کور ، کلي ، ولس او هیواد باندې الهې رحمتونه او برکتونه نازلیږي ځکه په کوم قوم کې چه رحم ،زړه سوی او

يو له بله كومك او خواخوږي وي نو پر هغه قوم باندې الله پاک خپل رحمتونه نازلوي له بلا او آفاتو يې ساتي .

په كوم قوم كې چه زكات نه وي پر هغه به وچكالي، لوږه او فقر حاكم وي ډول ډول آفات به ور باندې راځي .

**د زكات حكم**

زكات د اسلام دريم ركن دى په هغو كسانو چې د زكات د وجود شرطونه پوره كړي فرض عين دى .

په قرآنكريم كې تر اتيا (۸۰) زياتو آيتونو كې زكات له لمانځه سره پيوسته ذكر شوى دى .

الله (جل جلا له) فرمايي :[وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ][1]

ژباړه : لمونځ وكړئ او زكات وركړئ او ركوع كوئ سره له ركوع كوونكو (لمونځ كوونكو مسلمانانو سره) .

او فرمايي :[وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ][2]

---

[1]- سوره البقرة :۴۳ .
[2]- سوره النور :۵۶ .

ژباړه : او لمونځ وکړئ او زكات وركړئ او د رسول پيروي وكړئ ، هيله ده چې پر تاسې رحم وشي .

## د زكات فضائل ، دنيوي او اخروي ګټې

١- زكات ادا كول د صالحانو او متقيانو صفت دى :

[إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ * آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ مُحْسِنِينَ * كَانُوا قَلِيلاً مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ * وَبِالأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ * وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ][3]

ژباړه: يقيناً متقيان (پرهېزګاران) به په جنتونو او چينو كې وي ، په داسې حال كې چې هغه څه لره به نيوونكي وي چې دوى ته يې د دوى رب وركوي، بېشكه دوى له دې نه مخكې نېكي كوونكي وو ، دوى به د شپې په لږه برخه كې ويده كېدل ، او د سبا ختلو پر مهال به دوى استغفار كاوه ،او د دوى په مالونو كې به د سوالګر او د محروم (مسكين) حق ؤ.

په قرآنكريم كې د كامياب مؤمنانو له ډلې څخه يو هم د زكات وركوونكي كسان دي :

[قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ* الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاَتِهِمْ خَاشِعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ][4]

[3]- سوره الذاريات : ١٥-١٩ .
[4]- سوره المؤمنون :١-٤ .

ژباړه : په باوري توګه هغو مؤمنانو برى موندلى، هغه كسان چې پخپل لمانځه كې عاجزي كوي ،او هغه كسان چې له بدو كارو او بدو ويناوو لرې اوسي ، او هغه كسان چې د زكات وركونكي وي .

٢- د مال بركت او زياتوالى :

د زكات په ادا كولو سره الله تعالى په مال كې بركت اچوي .الله سبحانه وتعالى فرمايي: [يَمْحَقُ اللّهُ الْرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ][٥]

ژباړه : الله سود له مينځه وړي او خيراتونه زياتوي او الله نا شكره ګنهكار نه خوښوي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :«مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلا يَقْبَلُ اللَّهُ إِلاَّ الطَّيِّبَ، وَإِنَّ اللَّهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ،ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ، حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ»[٦] .

ژباړه : الله پاک يوازې د حلال مال صدقه قبلوي ، او چا چې د يوې خرما په اندازه حلال مال صدقه كړ ، الله (جل جلا له) هغه پخپل بلا كيف لاس كې نيسي او هغه ته داسې وده وركوي لكه تاسې چې كره آس ته روزنه او پالنه وركوئ تر هغه چې دا خرما په اندازه د يوه غره شي .

---

[٥]- سوره البقرة :٢٧٦ .
[٦]- رواه البخاري :١٤١٠

او په يو بل حديث شريف راغلي :« مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ،....»[٧]

يعنې : په زکات او صدقې سره مال نه کميږي .

ابى هريره ﷺ وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ»[٨] .

ژباړه : هر بنده ته د الله تعالى دا پيغام دى چې ته زما په ضرورتمندو بنده ګانو انفاق او خرڅ کوه زه به د خپلى خزانې نه تا لره درکړم.

٣- د ګناهونو معافي او بښنه :

د زکات په وجه مال پاکيږي او د بنده ګناهونه معاف کيږي .

د زکات په ادا کولو سره مال پاک او په مال کې چې د زکات د مستحقينو کوم حق دى هغه حصه هغوى ته سپارل کيږي ، په معنوي لحاظ د ګناهونو څخه پاکيدل او د فنا کيدونکو څيزونو د شوق او محبت څخه د زړه پاکوالى دى.

الله سبحانه تعالى فرمايي: [خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاَتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ][٩] .

[٧]- رواه مسلم :٢٥٨٨ .
[٨]- رواه البخاري :٤٦٨٤ .
[٩]- سوره التوبه :١٠٣ .

ژباړه : د دوى له مالونو څخه صدقه (زكات ) واخله څو دوى د هغې (صدقې ) له مخې پاک او برکتي کړې ، او دوى ته دعا وکړه په رښتيا سره چې ستا دعا دوى ته هوساينه ده.

همدارنګه الله تعالی د زکات په وجه د بنده ګناهونه معاف کوي لکه چې نبي ﷺ فرمايي : « وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الخَطِيْئَةَ كَمَا يُطْفِئُ المَاءُ النَّارَ، »[10] .

ژباړه : زکات او صدقه ګناهونه داسې له مينځه وړي لکه اوبه چې اور سړوي .

۴- له آفاتو څخه د مال ساتنه :

د زکات ادا کول د مال څخه د شر او آفت د مخنوي سبب ګرځي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ، إِلاَّ مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا»[11].

ژباړه : هر ورځ دوې ملائکې ځمکې ته را کوزيږي . يوه يې وايي : اى الله! څوک چې ستا په لار کې انفاق کوي هغې ته بدله ورکړې ، او بله يې وايي : اى الله! څوک چې ستا په لار کې انفاق (خرچ ) نه کوي د هغه مال هلاک کړه ، يعني د هغې مال تلف کړې .

---

[10]- رواه جامع الصعير :٣٨١٧.

[11]- رواه البخاري :١۴۴٢ .

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :«من أدى زكاة ماله فقد ذهب عنه شره»[12]

ژباړه : چا چې د خپل مال زکات ورکړ ، د مال له شر او آفت نه په امن شو.

نن عصر کې همدا وجه ده چې د هغه خلکو چې زکات نه ورکوي د هغوی په کښتونو او فصلونو همدارنګه مالونو باندې ډول ډول آفتونه نازليږي.

۵- زکات ورکوونکی به د قیامت په ورځ د الله د رحمت په سیورې کې وي:

د قیامت په ورځ به اوه کسان د الله تعالی د رحمت تر سیورې لاندې وي د هغه ډلې څخه یو هم زکات او صدقه ورکوونکی دی « سَبعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّه يَومَ لاَ ظِلَّ اِلا ظِلُّه .... وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَاَخفَاهَا حَتّيَ لاَتَعلَمُ شِمَالُه مَا تُنفِقُ يَمِينُه ...»[13]

۶- د دنیا او مال له محبت څخه نجات :

له دنیا او دولت سره محبت ستر مرض دی چه ددې مرض په وجه سړی بخیل ،سخت زړی او بې رحمه ، بې مینې او علاقې وي او د همدې

[12]- رواه الطبراني و صحيح الترغيب :۷۴۳ .
[13]- رواه مسلم .

مينې په وجه ناحقه مالونه خوري او پر نورو باندې ظلم او تيرى کوي نو کله چه څوک د خپل خوږ مال څخه د الله تعالى د رضا لپاره زکات ورکړي د هغه په زړه کې د الله پاک د محبت ولولې په جوش راشي او د فاني دنيا محبت يې له زړه وځي.

الله تعالى فرمايي :[لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ][14] .

ژباړه : له سره به تاسې د (پوره) ښېګڼې (درجه ) و نه مومئ تر څو چې له هغه شي څخه چې ستاسې خوښ وي ( د الله په لار کې ) خيرات ور نه کړئ.

زکات ته ځکه صدقه ويل کيږي ځکه چې دا په صدق او رښتينولى باندې دلالت کوي کوم چې د الله تعالى د رضا لپاره يې مصرف کوي .

٧- د نعمت شکرانه :

يقيناً هغه کس چه زکات اداء کوي ، نو پوره يقين لري چه ما خو څه نه لرل اى الله! ستا پر خپل فضل مالداره وګرځولم نو نن ورځ په ډير اخلاص ستا له راکړي مال څخه يواځې خلويښتمه برخه پر بې وزلو او مسکينانو ويشم ، نو شکر خو همدې ته وايي چه نعمت د الله پاک لخوا يو فضل وګڼل شي او د هغه حق ادا شي :

[14]- سوره آل عمران :٩٢ .

ابن قيم رحمه الله د شكر اركان داسې بيانوي :

- په نعمت اعتراف كول (چې دغه نعمت ماته د الله تعالى د جانبه را كړ شوى دى .
- د نعمت په اړه خبرې كول او د هغه ښكاره كول.
- د نعمت انفاق يا خرڅول د نعمت د عطا كوونكي په لار كې ( د مال شكر ادا كول د هغه زكات او انفاق دى په لاره د الله كې ) .

٨- د سخيانو په ډله كې حساب :

د زكات وركول تر ټولو غوره سخا ده او زكات نه ور كول لوى بخل دى، الله سبحانه وتعالى فرمايي: [وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ....]

ژباړه : او هغه كسان چې پر هغه څه چې الله د خپلې پيرزوينې څخه دوى ته وركړي دي بخيلي كوي نه ښايي چې دوى خپل دغه كار خير وګڼي بلكې دا د دوى لپاره زيان دى.

او بل دا چې په نورو باندې رحم كول د الله پاک د رحم او پيرزوينو سبب ګرځي نو كله چه هغو مسكينانو اوغريبانو ته چه ځلورو ديوالونو ته حيران ناست وي د خوراک لپاره هم څه نه لري زكات وركړ

شي څومره لوی رحم ، زړه سوی او خواخوږي به وي نو چا چې پر نورو رحم وکړ الله (جل جلا له) به په هغوی باندې رحم وکړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : « ارْحَمُوا مَنْ فِي الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ »[١٥] يعنې : تاسې د ځمکې په مخلوق رحم کوئ رحم به وکړي پر تاسې هغه (الله ﷻ) چه د آسمانو خالق دی.

٩- د خلاصون لاره:

د الله تعالی رضا چې د الله پاک رضا د هر مؤمن هدف او آرمان وي الله سبحانه وتعالى فرمايي :[إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ][١٦] .

ژباړه : يقيناً هغه کسان چې ايمان يې راوړی او ښه کارونه يې کړي دي او لمونځ يې قائم کړی دی او زکات يې ورکړی دی ، د هغوی اجر د دوی د رب سره دی پر دوی نه کومه ويره شته او نه به غمجن شي.

او همدارنګه فرمايي: [وَسَيُجَنَّبُهَا الأَتْقَى * الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى][١٧]

[١٥]- الترمذي :١٩٢٤ او سلسلة صحيحة ٩٢٥.
[١٦]- سوره البقره :٢٧٧ .
[١٧]- سوره الليل :١٧-١٨ .

ژباړه : د (دوزخ د اور نه ) به هغه متقيان خلک تر ټولو ژر ګوښه شي چې خپل مال د الله (جل جلا له) په لار کې ددې د پاره لګوي چې د ده روح او زړه ته سپېځلتيا حاصله شي.

الله پاک دې مونږ ته د زکات په ښه شان ادا کولو توفيق راکړي (آمين يا رب العلمين ).

## د زکات نه ورکوونکو ته د خطرناکو پايلو خبرداریٔ

د زکات په وجوب باندې ايمان لرل مګر د هغه نه ادا کول کبيره ګناه

اول – دنيوي عذاب :

د زکات نه ادا کول د آفاتو او په خاصه توګه قحط او وچکالی سبب ګرځي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : «وَلم يمنعوا زَكَاة أَمْوَالهم إِلَّا منعُوا الْقطر من السَّمَاء وَلَوْلَا الْبَهَائِم لم يمطروا..»[۱۸]

ژباړه: څوک چې د مالونو زکات نه ورکوي نو پر هغوی باندې د آسمان له طرف څخه (باران) نه اوريږي او که پر حيواناتو ( دالله تعالی رحم نه وای) نو هيڅ به نه اوريدل .

[۱۸]- رواه ابن ماجه من حديث الخصال الخمس .

الله سبحانه و تعالی د خپل بنده څخه د قرض په توګه څه مال غواړي چې هغه خپل محتاج او فقیر ورور ته ورکړه په بدل کې به ستا په مال کې برکت نازل کړم او په آخرت کې به د هغه غوره بدله درکړم .

مګر بخیل انسان ددې څخه مخ اړوي ، شیطان چې د انسان دوښمن دی انسان په فقر او لوږه سره ویروي او هغه ته دغه وسواس ور اچوي چې د زکات په ورکولو ستا مال کمیږي که نه اصلاً د هغه په مال کې برکت نازلیږي [الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ وَاللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ] [19]

ژباړه: شیطان تاسو له غریبی څخه ویروي او تاسو ته د بې حیایی حکم کوي او الله تاسو سره له خپل جانب نه د مغفرت او فضل وعده کوي او الله فراخه فضل والا، ښه پوه دی.

**دوهم اخروي عذاب :**

الله سبحانه وتعالی فرمایي : {وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ} [20]

ژباړه : او هغه کسان چه خزانه کوي سره زر او سپین زر (مال او دولت ) او هغه د الله تعالی په لار کې نه لګوي نو دوی ته په دردناک عذاب

---

[19]- سوره البقره :۲۶۸ .
[20]- سوره التوبه :۳٤ .

زيرى وركړه.

او فرمايي : [وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ][21]

ژباړه : او هغه کسان چې پر هغه څه چې الله د خپلې پيرزوينې څخه دوی ته ورکړي دي بخيلي کوي نه ښايي چې دوی خپل دغه کار خير وګڼي بلکې دا د دوی لپاره زيان دی ژر به په قيامت کې هغه څه چې دوی پرې بخلي کړې ده د دوی ( غاړې ته ) د طوق په شکل ور واچول شي.

له ابی هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ، مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ، لَهُ زَبِيبَتَانِ، يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ، يَعْنِي: بِشِدْقَيْهِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا مَالُكَ، أَنَا كَنْزُكَ». ثُمَّ تَلا: [لا يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ] الآيَةَ.[22]

ژباړه :په چا چې الله پاک د مال او دولت پيرزونه کړي وي،او هغه د خپل مال زکات ور نه کړي نو مال به يې د قيامت په ورځ د داسې مار په صورت مجسم شی چه سر به يې پک وي او دوه زهرجن نيشونه به لري

---

[21]- سوره آل عمران :۱۸۰ .
[22]- رواه البخاري :۱۴۰۳ .

او د ده تر غاړه به ور تاوشي او دی به تر وښکي ونيسي او ورته وايي به زه ستا جمع کړي مال او کنز يم بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ايت تلاوت کړ [لا يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ].

بل حديث شريف کې راځي :«مانع الزکاة يوم القيامة في النار»[٢٣] .

ژباړه : څوک چه د زکات له ورکړې منعه کوی نو د قيامت په ورځ يې ځای دوزخ دی .

## د زکات د ادا کولو آداب

١- د زکات د ادا کولو پر مهال به نيت خاص د الله تعالی رضاء وي ريا او ځان ښوودنه به پکې نه وي ځکه زکات ورکول عبادت دی او د هر عبادت لپاره اخلاص شرط دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى»[٢٤] .

ژباړه : بيشکه چي عملونه په نيتونو پوري اړه لري ، او يقيناً هر کس ته به د هغه څه (اجر او ثواب ) ورکول کيږي د څه يې چې نيت کړی وي.

٢- زکات به د حلال کسب څخه وي ځکه الله تعالی د حلال او پاک څخه پرته مال نه قبلوي ، الله سبحانه وتعالی فرمايلي : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

٢٣- رواه الطبراني و الترغيب و الترهيب :١٥/٢ .
٢٤- حديث متفق عليه .

آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ][25]

ژباړه : اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! له هغو پاكو (مالونو) نه انفاق كوئ چې تاسو ګټلي دي او له هغو (مالونو) نه چې مونږه تاسو لپاره له ځمكې نه را ايستلي دي، او له هغه (مال) څخه چې تاسو يې خيرات كوئ، د بې كاره څيز اراده مه كوئ، حال دا چې تاسو (پخپله) د هغه اخيستونكي نه يئ مګر دا چې د ده په باره كې تاسو ستركې پټې كړئ، او پوه شئ چې يقينًا الله ډېر بې پروا، ډېر ستايل شوى دى

٣- زكات به د غوره مال او هغه مال څخه وي چې ده ته خوښ وي .

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ][26] .

ژباړه: تاسو به (پوره) نېكى ته له سره ونه رسېږئ تر هغه پورې چې له هغه (څيز) نه څه حصه خرچ كړئ چې تاسو يې خوښوئ، او تاسو چې څه څيز هم خرچ كوئ، نو بېشكه الله په هغه ښه عالم دى.

٤- د زكات په ادا كولو سره به الله تعالى ته د خپل مال شكر باسي :

---

[25]- سوره البقرة :٢٦٧ .
[26]- سوره آل عمران: ٩٢ .

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ][27]

ژباړه: او تاسو ياد کړئ (هغه وخت) کله چې تاسو ډېر لږ وئ، په ځمکه کې ضعيفه کړى شوي وئ، چې تاسو به وېرېدلئ له دې نه چې خلق به مو په جلتۍ سره وتښتوي، نو هغه تاسو ته ځاى درکړ او په خپل مدد سره يې تاسو مضبوط کړئ او تاسو ته يې له پاکېزه څيزونو نه رزق درکړ، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ.

۵- د شرعي مصلحت پرته د زکات ورکول په پټه توګه غوره او افضل دي :

الله سبحانه وتعالى فرمايي:[إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِنْ تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِنْ سَيِّئَاتِكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ][28]

ژباړه: که تاسو خيراتونه په ښکاره وکړئ، نو دا يو ښه کار دى او که تاسو دا په پټه وکړئ او فقيرانو ته يې ورکړئ، نو دا ستاسو لپاره ډېر غوره دي او هغه (الله) به له تاسو نه ستاسو ځيني ګناهونه لرې کړي،

[27]- سوره الانفال :۲۶ .
[28]- سوره البقرة :۲۷۱ .

او الله په هغو (كارونو) چې تاسو يې كوئ؛ ښه خبردار دی.

۶- د زكات په ادا كولو كې بيړه پكار ده او ځنډول يې پكار نه دي .

الله سبحانه وتعالى فرمايي :[وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُنْ مِنَ الصَّالِحِينَ ] [۲۹]

ژباړه: او تاسو له هغه (مال) نه چې مونږ تاسو ته دركړی دی څه انفاق كوئ، مخكې له دې نه چې په تاسو كې يو كس ته مرګ راشي، بيا دا ووايي: ای زما ربه! ته ما تر نژدې مودې پورې ولې نه وروسته كوې، پس چې زه خيرات (صدقه) وكړم او له صالحانو (نيكانو) څنې شم.

۷- زكات او صدقات به لومړی خپل قريب او نږدې محتاج ته وركوي :

الله سبحانه وتعالى فرمايي :[وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ] [۳۰]

ژباړه: او د خپلولۍ والا د الله په كتاب كې د يو بل زيات حقدار دي، بيشكه الله په هر شي ښه پوه دی.

له سلمان بن عَامِرٍ ﷺ څخه روايت چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

---

[۲۹]- سوره المنافقين :۱۰ .
[۳۰]- سوره الانفال :۷۵ .

«إِنَّ الصَّدَقَةَ عَلَى المِسْكِينِ صَدَقَةٌ وَعَلَى ذِي الرَّحِمِ اثنَتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ»[31].

ژباړه : په مسكين باندي صدقه كول يوازې د صدقې ثواب لري مګر په قريب او خپل باندې صدقه كول دوه اجرونه لري د صدقې اجر او د خپلولی پاللو اجر .

٨- د هغو امورو څخه به پرهيز كوي كوم د زكات او صدقې د بطلان سبب ګرځي :

لكه په زكات او صدقه اخيستلونكي باندې مينت او احسان بارول ، پيغور وركولو سره هغه ته زيان او ضرر رسول .

الله سبحانه وتعالى فرمايي:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى كَالَّذِي يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ][32]

ژباړه: اى مؤمنانو خپل خيراتونه مو په منت باروولو او ضرر رسولو د هغوى كسان په خير مه باطلوئ چې د خلكو د ښودني لپاره خرچ كوي او په الله تعالى او ورځ د آخرت ايمان نه راوړي .

[31]- أخرجه الترمذي والنسائي.
[32]- سوره البقره :٢٦٤ .

همدارنګه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : « ثَلاثَةٌ لاَ يُكَلِّمُهُمْ اللَّه يومَ الْقِيَامةِ، وَلاَ يُزَكِّيهِمْ، وَلا ينْظُرُ إلَيْهِمْ، ولَهُمْ عذَابٌ أليمٌ » يعنې: درى ډلې كسان داسې دي چې د قيامت په ورځ الله (جل جلا له) د هغوى سره خبرې نه كوي ، او هغوى ته د رحمت په نظر نه ګوري او نه هغوى پاكوي او د دوى د پاره دردونكى عذاب دى .ابوذر ﵁ وويل : دا څومره زيان كاره او محروم خلک دي يا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! دا كوم كسان دي ؟ويي فرمايل :« الْمُسْبِلُ إزَارَهُ، والمَنّانُ، وَالْمُنفِقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ» ( څوک چې اوږدې جامې اغوندي او په متكبرانه ډول په لاره درومي او هغه څوک چې پر خلكو خپل احسان او منت باروي او په هغه باندې كبر او غرر كوي او بل هغه څوک چې خپل اجناس په دروغو قسمونو پر خلكو خرڅوي ).

# دوهم فصل

## د زكات د وجوب او صحت شرطونه

### د زكات د وجوب شرطونه

١- حريت (آزادي) : په غلام باندې زكات واجب نه دى ځكه هغه د مال مالک نه بلل کيږي.

٢- اسلام : پر کافر باندې زكات نشته ځکه د عبادت د قبول لپاره ايمان شرط دى او څوک که نوى مسلمان شي پر هغه باندې د مخکې وختونو زكات لازم نه دى .

الله سبحانه وتعالى فرمايي : [وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلاَّ أَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِاللّهِ وَبِرَسُولِهِ....] [٣٣]

٣- عقل او بلوغ :

د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په نابالغ ماشوم او ليوني باندې زكات نشته ځکه زكات عبادت دى او د هغه لپاره نيت شرط دى د ليوني او نابالغ نيت د تحقق وړ نه دى او بل دا چې له ليوني او نابالغ څخه شرعي مكلفيت ساقط دى [٣٤]

---

[٣٣]- سوره البقره :٥۴ .

[٣٤]- بدائع الصنائع ٥/۴-٥ ، المغني ٢/٦٢٢ .

مكر د جمهورو فقهاوو امام احمد ، امام مالک او امام شافعي رحمهم الله په نزد د ليوني او نابالغ ماشوم په مال کې زکات فرض دی د هغه ولي او سرپرست به يې زکات ادا کوي

د جمهورو دليل په غنيانو باندې د زکات د فرضيت مطلق نصوص دي چې په هغه کې ليونی او نابالغ نه دي مستثنی شوي [35]

۴- د نصاب مالک کيدل : د دومره مال مالک کيدل چه شريعت پرې زکات واجب کړی دی .

په ملکيت کې دا شرط دی چې ملک تام به وي ملک ناقص به نه وي ، هغه مالونه چې د خيريه کارونو لپاره جمع شوي وي لکه : خيره مؤسسات ، خيريه صندوق په هغه باندې زکات نشته ځکه ملک تام نه بلل کيږي .

هو قدرة المالك على التصرف بما يملك تصرفا تاما دون استحقاق للغير, لأن الزكاة فيها معنى التمليك والإعطاء لمستحقيها فلا يتحقق ذلك إلا من المالك القادر على التصرف, فلا زكاة في مال الضمار وهو ما غاب عن صاحبه ولم يعرف مكانه, أو لم يقدر على الوصول إليه.

دا چې زکات په کومو مالونو کې فرض دی تفصيل به وروسته راشي .

---

[35]- الموسوعة الفقهية :۲۳/ ۲۳۲ .

۵- پوروړی به نه وي : يو سړی د نصاب په اندازه مال لري ولی د نورو پوروړی هم وي زكات وربانديې نشته .

۶- پر مال پوره كال تېرېدل : هغه مال چې نصاب ته رسيدلی وي په هغه بانديې به يو كال تير شوي وي ، د كال پوره كېدل د قمري مياشتو له مخې حسابيږي .

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه روايت دی چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي : چه چا ته په هره طريقه مال حاصل شو، نو پر هغې بانديې تر هغه وخته زكات نه واجبيږي څو پورې چه په هغی بانديې يو كال نه وي تير شوی[٣٦] .

٧- پرخپلو اصلي ضرورتونو سربيره د نصاب شته والی :

ضروري احتياجات لكه : خوراك ، پوښاك او د شغل او كار وسائل .

## د زكات د آدا كولو د صحت شرطونه

يعنی د دغه شپږ شرطونو سره د زكات ادا صحيح ده او كه نه وي زكات نه آداكيږي :

1- مسلماني :د زكات اداء كوونكی به ضرور مسلمان وي ، د نا مسلمان زكات نه اداء كيږي .

[٣٦]- رواه الترمذي .

2- عقل : كه يو ليونى زكات ورکړي زکات يې نه اداء كيږي .

3- په ټاکلوځايونو کی د زكات مصرفول : هغه ځايونه چې په قرآنكريم کې د التوبه په (۶۰) ايت كې واضح بيان شوي ،چې تفصيل به يې وروسته راشي،كه پرته له دغو ځايونو زكات په نورو ځايونو كې ولګول شي زکات نه آدا كيږي .

4- بلوغ : نا بالغه ماشوم كه زكات ورکړي زكات نه اداء كيږي .

5- مالک ګرځول : د زکات د اداء کولو پر وخت کې بايد د زكات اخيستونکی د هغه مالک وګرځول شي ، كه هغه فرد وي او كه د زكات راټولولو مامورين وي .

دا مهم نه ده چې د زكات د ادا په وخت كې د زكات مستحق كس ته وويل شي چې دا د زکات روپۍ واخله بلکې هغه د صدقې ، كومک ، شرینۍ او په کوم بل عنوان هم ورکولای شي خو داسې چې هغه مالک وګرځول شي او پوه شي چې دا د خيرات روپۍ دی نه د قرض حسنه و غيره او په پوره ډاډ سره يې مصرف كړي.

علماء كرامو د لاندې قرآني او نبوي صلى الله عليه وسلم ارشاداتو په رڼا كې د زكات او صدقاتو تقسيمول په پټه سره بهتره ګڼي.

[إِن تُبْدُواْ الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاء فَهُوَ خَيْرٌ لُّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ][37]

ژباړه : كه تاسې خيراتونه ښكاره وركوئ نو دا هم ښه دى او كه خيراتونه پټ وركوئ او اړو خلكو ته يې وركوئ دا ستاسې لپاره غوره دي او له تاسې څخه ځنې ګناهونه لرې كوي او الله پاک په هغو ټولو كارونو چې تاسې كوئ خبر دى .

همدارنګه په حديث شريف كې راغلي دي :«سبعة يظلهم الله في ظله يوم لاظل إلا ظله: الامام العادل، وشاب نشأ في عبادة الله، ورجل قلبه معلق بالمساجد، ورجلان تحابا في الله عزوجل، اجتمعا عليه، وتفرقا عليه، ورجل تصدق بصدقة فأخفاها، حتى لا تعلم شماله ما تنفق يمينه، ورجل ذكر الله خاليا ففاضت عيناه. ورجل دعته امرأة ذات منصب، وجمال، إلى نفسها، فقال: إني أخاف الله عزوجل» .

ژباړه : اووه كسان دي چه هغوى ته به الله تعالى د خپل (رحمت) سيورى كې په داسې ورځ ځاى وركړي په كومه ورځ چه به د هغه سيوري نه غير بل هيڅ سيورى نه وي:

اول:عادل پاچا.

---

[37]- سوره البقره : ۲۷۱ .

دوهم: هغه ځوان چې خپله ځواني د الله تعالی په عبادت تیره کړې وي.

دریم: هغه څوک چه د هغه زړه جوماتونو سره تړلی وي (پنځه وخته لمونځ په جمع کوي کله چه یو لمونځ آدا کړي د بل په فکر کې وي).

څلورم: هغه دوه کسان چه د الله تعالی د رضا لپاره یې خپل مینځ کې محبت وي ،هم په دغې د هغوی یوځای کیدل وي او هم په دغې د دوی جلا کیدل وي.

پنځم: هغه کس چه یوه ښایسه شریفه ښځه یې خپل طرف ته متوجه کړي ( د زنا غوښتنه ور څخه وکړي ) او هغه ورته ووایي چه زه د الله تعالی نه ویریږم.

شپږم: هغه سړی چه په داسې پټه طریقه صدقه ورکړي چه بل لاس ترې هم خبر نشي .

اووم:هغه کس چه د الله تعالی ذکر په تنهایی کې وکړي او اوښکې یې وبهیږي (یا په پټه کې د خپلو ګناهونو په یادولو د الله تعالی له ویرې وژاړي یا د شوق او محبت له وجې د ذکر پر وخت پټ وژاړی) .

6- د زکات د اداء کولو نیت : زکات اداء کوونکی باید د زکات د اداء کولو پر وخت کې د زکات نیت ولري .

د هر عبادت د صحت د پاره نيت شرط دی لقوله سبحانه وتعالى :[وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ][38] .

ژباړه : او په داسې حال کې چې دوی نه وو ګومارل شوي خو په دې چې په پوره اخلاص د الله پاک عبادت وکړي اوعقيده ولري چې دين د هغه له خوا دی او په عين حال کې له هر ډول اوښتني لري وي لمونځ (د هغه له تولو آدابو سره ) ادا کړي او زکات ورکړي او دا سم او ټينګ دين دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : «إنما الاعمال بالنيات وإنما لكل امرئ ما نوى»[39]

ژباړه: هر عمل په نيت پورې تعلق لري ، او سړي ته هغه څه رسيږي د کوم شي يې چې نيت کړي وي.

يو دا چې نيت به يې خالص د الله (جل جلا له) رضا او د هغه عبادت کول وي او بل دا چې د فرض زکات د آدا نيت به لري که چيرې يو کس خيراتونه او صدقه ورکړي او بيا وروسته هغه په زکات کې حساب کړي ، زکات يې نه ادا کيږي ځکه ده د نفلي صدقې نيت کړي وو نه د زکات .

[38]- سوره البينه :٥

[39]- رواه البخاري .

**په لاندې څلورو شیانو کې زکات فرض دی :**

اول- الأثمان (سره زر ، سپین زر او نغدې پیسې ).

دوهم- عروض التجارة ( تجارتي اموال ) .

دریم – الخارج من الارض (د ځمکې حاصلات ) .

څلورم – السائمة من بهیمة الأنعام ( په صحراء کې څرېدونکي څاروي).

په پورته څلورو شیان کې زکات فرض دی چې تفصیل وروسته را روان دی.

# دريم فصل

## د سرو زرو، سپينو زرو او نغدو پيسو زكات

په سرو زرو او سپينو زرو او همدارنګه نغدو پيسو کې زكات هغه وخت فرض دی چې کله نصاب ته ورسيږي او کال ورباندې تير شي .

### د سپينو او سرو زرو نصاب

د سپينو زرو د زکات نصاب دوه سوه شرعي درهمه دی او د سرو زرو د زکات نصاب شل ديناره يا مثقاله دی .

له علي بن ابی طالب ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إِذَا كَانَتْ لَكَ مِائَتَا دِرْهَمٍ وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ ، وَلَيْسَ عَلَيْكَ شَيْءٌ يَعْنِي فِي الذَّهَبِ حَتَّى يَكُونَ لَكَ عِشْرُونَ دِينَارًا ، فَإِذَا كَانَ لَكَ عِشْرُونَ دِينَارًا وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا نِصْفُ دِينَارٍ ...»[٤٠]

ژباړه : کله چې ستا سره دوه سوه درهمه (سپين زر) وي او په هغه باندې کال تير شي نو په هغه کې پنځه درهمه (زکات ) دی ، او پر تا باندې څه نشته په سرو زرو کې مګر دا چې شل دينارونو ته ورسيږي

---

[٤٠]- رواه ابوداود :١٥٥٨ ، و الترمذي :٦١٦ ، و النسائي :٣٧/٥ و أحمد :١٢١/١ بالسناد صحيح .

نو کله چې ستا سره شل دیناره (مثقال) سره زر وي او په هغه باندې کال تیر شي نو په هغه کې نیم دینار (زکات) دی .

أمّ سلمه ﵂ وايي:« كُنْتُ أَلْبَسُ أَوْضَاحًا مِنْ ذَهَبٍ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَكَنْزٌ هُوَ؟ فَقَالَ: مَا بَلَغَ أَنْ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ فَزُكِّيَ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ»[41]

ژباړه :امو سلمه ﵂ وايي : ما به د سرو زرو یا طلا زیورات اچول له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې پوښتنه وکړه چې ایا دا هم په حکم د کنز کې دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هر هغه څه چې د زکات نصاب ته ورسیږي او د هغه زکات اداء شي هغه کنز نه دی ).

## د سرو او سپینو زرو نصاب د ګرام له نظره

د سرو زرو نصاب (20) مثقاله دی چې دا شل مثقاله د (85) ګرامو خالص سرو زرو سره برابر دي ( یو مثقال له 4.25 ګرام سره برابر دی ).

د سرو زرو (20) مثقاله له (85) ګرام سره په هغه صورت کې سمون خوري چې سره زر خالص وي یعني 24 عیار وي.

[41] - ابوداود (۱۵۶۴)، دارقطنی (۱۰۵/۲) .

كچېرې د سرو زرو سره بل شی کډ وي يوازې د سرو زرو فيصدي حسابيږي مثلاً

د (21) عيار سرو زرو نصاب (97) ګرامه کيږي ځکه په دغه عيار کې (0.875 ) فيصده سره زر دي .

د (17) يا (18) عيار سرو زرو نصاب (113) ګرامه کيږي ځکه په دغه عيار کې (0.75) فيصده سره زر دي .

او د سپينو زرو د زكات نصاب (200) درهمه دی چې دا دوه سوه درهمه د (595) ګرامو سره سمون خوري (يو درهم له 2.975 ګرام سره برابر دی )

ونصاب الذهب والعملات الذهبية هو (20) عشرون مثقالا وتعادل (85) جراما من الذهب الخالص (والمثقال يعادل 4.25 جراما)

ونصاب الفضة والعملات الفضية (200) مائتا درهم،وتعادل (595) جراما من الفضة

الخالصة (والدرهم يعادل 2.975 جراما[٤٢]

دسرو او سپينو زرو د زكات اندازه ٪ 2.5 يا 40 څلويښتمه برخه ده .

په دليل د دغه حديث شريف : «من كل أربعين درهما درهم »[٤٣]

---

[٤٢]- تحقيق : مجمع الفقه الاسلامي و اللجنة الدائمة السعودية و علماء الاكاديمية الاسلامية العالمية .

[٤٣]- رواه ابؤداود :١٥٧٢ .

ژباړه : (پس اداء کړئ زکات د سپينو زرو) د هر څلويښت درهمو نه يو .

توضيحي مثالونه :

**لومړی مثال :** که څوک په خپل کور کې 120 ګرامه سره زر ولري نو زکات يی داسې حسابيږي :.

که د يوه ګرام سرو زرو قيمت 1700 افغانی وټاکو نو

120x1700 = 204000Af نو دزکات اندازه به مساوي شي په :

204000÷ 40 = 5100 نو پنځه زره او سل افغانی د زکات اندازه شوه.

**دوهم مثال :** که څوک 800 ګرامه سپين زر ولري نو که د سپينو زرو د يوه ګرام نرخ مثلاً 35 افغانی وټاکو نو :

35x 800 = 28000÷40 = 700 Af نو اووه سوه افغانی زکات به پر مستحقو کسانو وويشي .

يادونه : پورته نرخونه اټکلي دي تاسې يې د سرو او سپينو زرو د وخت او ځای د نرخ سره سم حساب کړئ .

**آيا سره زر له سپينو زرو سره د نصاب په تکميل کې يو ځای کيږي؟**

داسې چې يو کس څه اندازه سپين زر ولري او څه اندازه سره زر .

د جمهورو فقهاوو (الحنفيه ، مالکيه او أحمد ) په نزد سپين زر د سرو

زرو سره د نصاب د پوره كيدو لپاره جمع كيږي ځكه ګټه او نفع يې يوه ده او دواړه د اخيستلو او خرڅولو لپاره كاريږي [٤٤].

**په مستعملو زروكې هم زكات شته ؟**

د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد كله چې زر د زكات نصاب ته ورسيږي هغه كه د استعمال د پاره وي او يا د استعمال د پاره نه وي په دواړو ډولو كې زكات واجب دى ځكه په دواړو حالاتو كې كنز بلل كيږي په دليل د دغه لاندې احاديثو :

عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت كوي: «أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رسول الله صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَآله وَسَلَّمَ وَمَعَهَا ابْنَةٌ لَهَا وَفِي يَدِ ابْنَتِهَا مَسَكَتَانِ غَلِيظَتَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ لَهَا: أَتُعْطِينَ زَكَاةَ هَذَا؟ قَالَتْ: لَا قَالَ: أَيَسُرُّكِ أَنْ يُسَوِّرَكِ اللَّهُ بِهِمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سِوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ؟! قَالَ فَخَلَعَتْهُمَا فَأَلْقَتْهُمَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَآله وَسَلَّمَ وَقَالَتْ: هُمَا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلِرَسُولِهِ»

ژباړه: يوه ښځه د خپلې لور سره د جناب نبى اكرم حضور ته راغله د نجلى په لاس كې د سرو زرو يا طلا بنګړي وو . رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته وويل : ايا ددې بنګړيو زكات ور كوې ؟ ويې ويل : نه رسول

---

[٤٤] ـ الموسوعة الفقهية : ٢٦٧/٢٣ .

الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : آيا ته دا خوښوي چې د قيامت په ورځ الله تعالى تا ته د اور بنګړې در واغوندي ؟ (عبدالله بن عمر ) وايي نجلى بنګړي له خپلو لاسونو ويستل او پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته يې پيش كړل او ويې ويل : دا دې د الله او د هغه د رسول وي » [٤٥].

امّ سلمه ﷺ وايي:« كُنْتُ أَلْبَسُ أَوْضَاحًا مِنْ ذَهَبٍ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَكَنْزٌ هُوَ؟ فَقَالَ: مَا بَلَغَ أَنْ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ فَزُكِّيَ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ»[٤٦]

« ما به د سرو زرو يا طلا زيورات اچول له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مې پوښتنه وكړه چې ايا دا هم په حكم د كنز دي ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : هر هغه څه چې د زكات نصاب ته ورسيږي او د هغه زكات ادا شي هغه كنز نه دى ».

مګر د امام أحمد ، امام مالك او امام شافعي رحمهم الله په نزد د استعمال او سينګار لپاره زيوراتو كې زكات نشته .

د نړي معاصرو فقهاوو (علماء البلد الحرام ١٠٠/١٤ ، علماء اللجنة الدائمة ١٠٥/١٤، الشبكة اسلامية فتاوي رقم: ٢٨٧٠او علماء الاكاديمية الاسلامي) لومړى قول راجح بللى او د ښځې په زيوراتو كې په

---

[٤٥] - ابوداود (١٥٦٣) ترمذى(٦٣٧) ، نسائى(٢٤٧٩)،دارقطنى(١١٢/٢) بالسناد صحيح و حسن .

[٤٦] - ابوداود (١٥٦٤)، دارقطنى (١٠٥/٢) و حاكم (٣٩٠/١)(١٤٣٨) حاكم دغه حديث صحيح بللى او ذهبى هم ور سره موافق دى .

هغه صورت چې نصاب ته ورسيږي زكات شته هغه كه د زينت لپاره وي او كه ساتل شوي وي.

**د زكات د ادا لپاره كوم قيمت په نظر كې نيول كيږي ؟**

د زيوراتو (ګاڼه) د زكات د حساب لپاره د همغه وخت د مستعملو سرو يا سپينو زرو نرخ په نظر كې نيول كيږي ، ښكاره خبره ده چې د نوي زرو څخه د مستعملو زرو نرخ ښكته وي ، مثلاً كه نوي زر ګرام په (2300) افغانۍ وي نو مستعمل به په (1900-2000) افغانۍ ګرام وي مقصد دا چې د همغه وخت نرخ په نظر كې نيول كيږي .

إذا بلغ الذهب نصابا ، وهو خمسة وثمانون جراما ، وحال عليه الحول وجبت زكاته ، بإخراج ربع العشر منه ، أو من قيمته ، والمراد بقيمته : السعر الذي يباع به مستعملا ، وقت وجوب الزكاة ، وهو غالبا ما يكون أقل من سعر الذهب الجديد[٤٧]

**د زيوراتو زكات په ښځه فرض دى او كه د هغې په خاوند؟**

اصلاً زكات په ښځه باندې فرض دى ځكه مالك نصاب ښځه ده مګر كه د ښځې له طرف يې د هغه خاوند ادا كړي جايز او كار د خير دى .

---

[٤٧]- فتاوى الاسلام سوال جوال رقم :٤٣٠٣٣ .

«إذا وجبت الزكاة والمرأة ليس لها دخل وطابت نفس الرجل بالزكاة عنها فهذا مجزئ، وله أجر في ذلك، والله لا يضيع أجر من أحسن عملاً» [٤٨]

**د ګوتې په غمي او نورو جواهراتو باندې زکات نشته:**

د ګوتې په غمي او نورو جواهراتو لکه : ياقوت ، مرجان او نورو چې د تجارت د پاره نه وي زکات نشته. [٤٩]

**د ښځو د زېوراتو زکات يو ځل ادا کېږي او که هر کال:**

د کال په تيريدو سره چې مال د زکات نصاب ته رسيدلی وي هر کال به د هغه زکات ادا کوي.

په دليل د دغه حديث شريف : « لا زكاة في مال حتى يحول عليه الحول » [٥٠]

يعني : په مال کې تر هغه پورې زکات نشته څو پورې په هغه باندې کال پوره شي.

و منها حولان الحول على المال ، العبرة فى الزكاة للحول القمري ، كذا فى القنية [٥١]

---

[٤٨]- فتاوى علماء البلد الحرام جزء ٣٨ – كتاب الزكاة .

[٤٩]- فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ٩٨ ، درالمختار ج ٢ ص ۴ باب زكوة .

و قال امام النووي في المجموع : لَا زَكَاةَ فِيمَا سِوَى الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ مِنْ الْجَوَاهِرِ كَالْيَاقُوتِ وَالْفَيْرُوزَجِ وَاللُّؤْلُؤِ وَالْمَرْجَانِ وَالزُّمُرُّدِ وَالزَّبَرْجَدِ وَالْحَدِيدِ وَالصُّفْرِ وَسَائِرِ النُّحَاسِ وَالزُّجَاجِ , وَإِنْ حَسُنَتْ صُنْعُهَا وَكَثُرَتْ قِيمَتُهَا , وَلا زَكَاةَ أَيْضًا فِي الْمِسْكِ وَالْعَنْبَرِ.

[٥٠]- رواه ابن ماجه .

[٥١]- الهنديه : ١٧٥/١ .

## د نغدو پيسو زكات او د هغه نصاب

په اوس عصر كې د سرو او سپينو زرو پر ځاى نغدې پيسې كارول كيږي نو ځكه نغدې پيسې د معاصرو فقهاوو په نزد د سرو او سپينو حكم لري او په هغه كې زكات فرض دى .

الله سبحانه وتعالى فرمايي : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ][52]

ژباړه: اى مؤمنانو! لګوئ ! له حلالو ،پاكو د هغومالونو چه ( په كسب سره ) تاسې ګټلي .

او فرمايي : [وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُوم][53]

ژباړه: او په مالونو د دوى كې حق او برخه وه سوالګر لره او صبر كوونكى لره .

### د نغدو پيسو نصاب

د احنافو په نزد د نغدو پيسو او تجارتي اموالو نصاب د سپينو زرو د نصاب له رويه ټاكل كيږي ځكه چې د سپينو زرو نصاب اقل (لږ) دى .

[52]- سوره البقره :٢٦٧ .
[53]- سوره الذاريات :١٩ .

په دي باندې د ټول امت د علماء اتفاق دى چې پاتګه هر کوم نصاب ته هغه د سپنو وي يا د سرو زرو وي ورسيږي زكات ور باندې فرض دى معلومه خبره ده چې په نن عصر كې د سپينو زرو نصاب اقل دى .

فتاوي اللجنة الدائمه ليکي :

ونظرا لأن قيمة نصاب الفضة في هذا الوقت أدنى من قيمة نصاب الذّهب فيكون التقدير بناء عليه فإذا بلغ ما عند الشخص من العملة الورقية قيمة نصاب الفضة أخرج الزكاة ، ونصاب الفضّة يعادل 595 غراما تقريبا والله تعالى أعلم[٥٤] .

و جاء في فقه الاسلامي وادلته:

وإن كان يرى كثير من علماء العصر تقدير النصاب بالفضة: لأنه أنفع للفقراء، وللاحتياط في الدين، ولأن نصاب الفضة مجمع عليه، وثابت بالسنة الصحيحة[٥٥]

همدارنګه فقه الزكاة اكاديمية الاسلامية ليكي:

فاذا بلغت أقل نصاب من الذهب و الفضة أخرج الزكاة من قيمتها[٥٦] .

٥٤- فتاوى اللجنة الدائمة : ٢٥٧/٩ .
٥٥- فقه الاسلامي وادلته / دوكتور وهبة الزحيلي .
٥٦- فقه الزكاة / شيخنا دوكتور عثمان الزهراني .

زمونږ استاذ دوکتور عبدالله بن منصور الغفيلي په «نوازل الزكاة» کې راجح قول همدا بللى دى چې د هر کوم نصاب قيمت لږ وو هغه په نظر کې نيول کيږي واضح خبره ده چې په نن عصر کې د سپينو زرو نصاب قيمت کم دى .

يترجح القول الثالث : لما تقدم من ثبوت كلا النصابين ، ومع التفاوت يجب الاخذ بالأقل منها ، الأنه الأحظ للفقير ، والأبرأ لذمة المزكي ، وفيه اعمال للنصوص و جمع بين القولين .

وبناء عليه ، فاننا نحسب ثمن نصاب الذهب ، وثمن نصاب الفضة ، ثم نأخذ بالنصاب الأقل ، ونخرج زكاته من الورق النقدي .

د نغدو پيسو نصاب د سپينو زرو د نصاب له رويه ټا کل کيږي چې د سپينو زرو نصاب دوه سوه درهمه يا 595 ګرامو سره سمون خوري .

د نصاب ټاکلو لپاره به د همغه وخت او ځاى د يو ګرام نقرې يا سپينو زرو نرخ په نظر کې نيول کيږي .

مګر ځنې فقهاء بيا وايي چې د نغدو پيسو نصاب د سرو زرو له مخې ټاکل کيږي ځکه چې د سپينو زرو نرخ تغير کوي مګر د سرو زرو نرخ ثابت دى .

من العلماء المعاصرين من رأى أن يعتبر زكاة الاوراق النقدية بنصاف الفضة ، لكونه مجمعاً عليه ، ولان التقدير به أنفع للفقراء .

بينما ذهب آخرون الى أن نصابها نصاب الذهب ، لأن الفضة قد تغيرت قيمتها بعد عصر النبي صلى الله عليه وسلم و من بعده حتى لم تعد لها قيمة تذكر ، بخلاف الذهب فان قيمه ثابتة الى حد كبير [٥٧]

**د معاش او اجرت زكات څنګه ادا کیږي ؟**

د معاش او اجرت د پیسو د زكات آسانه لاره دا ده چې د كال يو وخت به ورته تعين كړي مثلاً رمضان المبارك يا كومه بله قمري مياشت كله چې دغه مياشت را ورسيږي نو خپله پانګه به وګوري چې دومره پيسې د كور له ضرورياتو څخه اضافه شوي دي ، كچيرې نصاب ته ورسيږي د هغه زكات به ادا كړي .

جاء في فقه الزكاة الاكاديمية الاسلامية:

أفضل طريقةٍ تبرأ بها الذمة لإخراج زكاة الراتب، أن يحدد يومًا في السنة، وليكن هذا اليوم في رمضان، فإذا جاء شهر رمضان، ينظر ما لديه في حسابه، فإن بلغ النصاب، فإنه يزكيه ، ويخرج المال [٥٨] .

---

[٥٧] ـ فقه الاسلامي و ادلته ، فقه الزكاة / ابو مالك الكمان بن السيد مالك .
[٥٨] ـ فقه الزكاة الاكاديمية الاسلامي / شيخنا دوكتور راشد بن عثمان .

مثلاً يو كس د مياشتې (24000) افغانۍ معاش اخلي څه حصه د كور په ضروورياتو كې مصرفوي او څه حصه اضافه كيږي كله چې كال پوره شي د هغه سره (168000 ) افغانۍ اضافه دي نو د دغه افغانيو زكات داسې حسابيږي.

168000÷40=

څلور زره او دوه سوه افغانۍ به د زكات پر مستحقينو وويشي .

**د زكات اندازه :**

د سرو زرو ، سپينو زرو او نغدو پيسو د زكات اندازه څلوېښتمه برخه يا 2.5% ده .

# څلورم فصل

## د تجارتي مالونوزكات

تول هغه مالونه چې د بيع او تجارت په نيت اخيستل شوي وي تجارتي مالونه بلل كيږي او زكات وربانديې فرض دى .

الله سبحانه وتعالى فرمايي : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ][59]

ژباړه: اى مؤمنانو! لګوئ ! له حلالو ،پاكو د هغومالونو چه ( په كسب سره ) تاسې ګټلي .

د مال د ګټلو يوه ستره وسيله سوداګري او تجارت دى .

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنْ الَّذِي نُعِدُّ لِلْبَيْعِ[60].

ژباړه : د حضرت سمره بن جندب ﷺ نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته حكم كولو چې مونږ به د هر هغه شي نه زكات وباسو كوم چې د بيع يعني سوداګرى او تجارت د پاره اخستي وي .

هغه شيان چې د بيع او تجارت لپاره وي لكه :

✓ دوكانونه ، مغازې ، درملتون او نور .

---

[59]- سوره البقره :٢٦٧ .
[60]- رواه ابوداود :١٥٦٢ .

- ✓ د بيع او تجارت لپاره اخيستل شوې ځمكې ، كوروونه او ماركيټونه .
- ✓ هغه شركتونه چې ساختماني مواد ، سامان آلات او نور شيان خرڅوي .
- ✓ موټر فروشی او نور ټول هغه شيان چې د تجارت لپاره وي .
- ✓ د بيع لپاره حيوانات او نور .

په تجارتي اموالو كې په لاندې شرطونو زكات فرض دی :

اول- دا چې نيت يې بيع او تجارت وي .

دوهم – نصاب ته ورسيږي .

دريم – كال ورباندې تير شي .

مګر هغه ځايونه چې اصلاً د بيع لپاره نه وي مګر د ګټې او كار لپاره استعماليږي لكه : فابريكه ، د چركانو فارم ، د كرايې كورنونه او ماركيټونه د هغه په ځمكه او سامان زكات نشته بلكې په حاصلاتو يې زكات فرض دی .

**د تجارتي مالونو نصاب :**

د تجارتي مالونو د زكات نصاب هم د نغدو پيسو په څير د سپينو زرو د نصاب له رويه ټاكل كيږي ځكه چې د سپينو زرو نصاب اقل (لږ) دی كوم چې بيان يې مخكې تير شو .

او د تجارتي مالونو د زكات اندازه څلويښتمه برخه يا 2.5% ده .

**د زكات د ادا كولو طريقه :**

د دوكان ، درملتون او نورو د مالونو د حساب غوره طريقه دا ده چې كله د كال په آخر كې د زكات نيته را ورسيږي مثلاً د روژې مياشت نو په دوكان كې به ټول مالونه د ورځنې نرخ له مخې حساب كړي ، د اخيستلو نرخ به په نظر نه نيسي بلكي د حساب د وخت موجوده نرخ به په نظر كې نيسي او ګټه او هغه پورونه چې د ادا كولو ور وي ورسره جمع كړي او دا به هم په نظر كې نه نيسي چې په كوم مال كال پوره شوى او په كوم نه دى پوره شوى ، هر څومره پانګه چې شوه د هغه څلويښتمه برخه په زكات كې وركول كيږي.

و من كان له نصاب فاستفادنى اثناء الحول من جنسه ضمه اليه و زكاة به[٦١] .

أفضل طريقةٍ تبرأ بها الذمة لإخراج زكاة الراتب، أن يحدد يومًا في السنة، وليكن هذا اليوم في رمضان، فإذا جاء شهر رمضان، ينظر ما لديه في حسابه، فإن بلغ النصاب، فإنه يزكيه ، ويخرج المال[٦٢] .

[٦١]- شرح البدايه : ٧٥/١ .
[٦٢]- فقه الزكاة الاكاديمية الاسلامية / دوكتور راشد بن عثمان .

مثال : يوه تجار خپل تجارتي اموال حساب كړل چې د ورځې په نرخ سره (350000) افغانۍ او (35000) افغانۍ يې ګټه كړې او (15000) د ادا وړ پورونه لري تول پانګه يې (400000) لكه افغانۍ كيږي

400000÷40=10000

پس لس زره افغانۍ به د زكات پر مستحقينو وويشي .

**آيا په زكات كې مالونه وركړشي اوكه د هغه قيمت ؟**

په زكات كې د عين مال وركول او يا د قيمت وركول دواړه جايز دي.

او يا د ضروري شيانو لكه : اوړه ، ورجې او غوړ اخيستل او مستحق ته وركول جايز دي ، لكن ښه خبره دا ده چې هغه ته نغدې پسې وركړ شي تر څو پخپله اوليه ضروريات وربانديې حل كړي.

جاء في فقه الاسلامي وادلته:

يخير التاجر بين العين أو القيمة، فللمالك الخيار عند حولان الحول بين الإخراج من قيمة

التجارة، فيخرج ربع عشر القيمة، وبين الإخراج من عينها، فيخرج ربع عشر العين التجارية[٦٣] .

---

[٦٣]- فقه الاسلامي وادلته ، البدائع ٢/ ٢١.

# پنځم فصل

## د کرهنې زکات

### د کرهنی زکات یا عشر

عشر چه لغوي معنی یې لسمه برخه ده .د کرهنې یا ځمکنې محصولاتو زکات د نور مال او دولت په شان په مسلمان نر او ښځه فرض دی.

الله سبحانه وتعالی فرمايي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الأَرْضِ... ].

ژباړه : ای مؤمنانو! د هغو پاکو شیانو څخه چې ګټلی مو دی او له هغو شیانو څخه چې مونږ ستاسې لپاره له ځمکې را ویستلي دي مصرف کړئ (زکات ادا کړي ).

او فرمايي: [وَآتُواْ حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ]

ژباړه: او د هغه حق (زکات ) د ريبلو په ورځ اداء کړئ او بې ځايه لګښت مه کوئ چې الله پاک بې ځایه لګښت کوونکي نه خوښوي .

### د کرهنې د زکات د وجوب شرایط

۱- دا چې ځمکه به عشري وي په خراجي ځمکه باندې زکات نشته ځکه عشر او خراج په یوه ځمکه کې نشي جمع کیدای .

۲- د ځمكې په كرهنه ، حاصلاتو او پيداوار باندې زكات فرض دى په هغه ځمكه چې حاصل ونلري او د كرهنې وړ نه وي زكات نشته .

۳- داچې د ځمكې حاصلات به د كرهنې په نيت كرل شوي وي كه د كرهنې د نيت پرته را شنه شوي وي لكه : ګيا او نور په خپله شنه شوي واښه په هغه باندې زكات نشته[٦٤] .

۴- د كرهنې د زكات لپاره د كال پوره كيدل شرط نه دي بلكې د فصل پوره كيدل شرط دى كله چې د كرهنې فصل ورسيږي زكات وربانديې فرض دى .

## د كرهنې د زكات نصاب

امام ابوحنيفه رحمه الله وايي د كرهنې د زكات لپاره نصاب نشته كه د ځمكې حاصلات لږ وي يا ډير په هغه كې زكات فرض دى ، په دليل د الله تعالى د دغه عام قول : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الأَرْضِ ...] .

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : «ما سقته السماء ففيه العشر، وما سقي بغَرْب أو دالية، ففيه نصف العشر»

---

[٦٤]- بدائع الصنائع : ۲/۵۷-۶۳.

جمهور فقهاء صاحبان (امام يوسف ، امام محمد) او امام أحمد ، امام مالک او امام شافعي رحمهم الله وايي : د كرهنې د زكات (عشر) لپاره نصاب شرط دى چې عبارت له پنځه وسق څخه دى په دليل د دغه حديث شريف : « وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ»[٦٥]
پنځه وسق (300) صاع كيږي او يو صاع د ځنو فقهاوو په نزد (2.175) كيلو ګرام او ځنو په نزد تقرباً (3) كيلو ګرام كيږي احتياطاً (2.175) چې له (653) كيلو ګرام سره برابريږي په نظر كې نيسو كوم چې «دوكتور وهبة زحيلي رحمه الله» او «هيئة شريعة لبيت الزكاة» ټاكلى دى[٦٦]

## د كرهنې په كومو پيداوارو باندې زكات واجب دى

د امام ابوحنيفه او صاحبانو او يو قول د امام شافعي او امام مالک رحمهم الله په نزد د ځمكې په ټولو پيداوار هغه كه د وزن او ذخيرې وړ وي يا نه وي زكات فرض دى[٦٧] .

[٦٥]- رواه مسلم .
[٦٦]- البدائع: ٢/٥٩، فتح القدير: ٢/٢ ومابعدها،القوانين الفقهية: ص١٠٥، الشرح الصغير: ١/٦٠٨.
[٦٧]- هنديه :١/١٨٦ ، هيئة الشرعية لبيت الزكاة .

قال ابن العربي : « و أقوي المذاهب في المسألة مذهب أبى حنيفة دليلاً ، و أحوطها للمساكين و أولاها قياماً بشكر النعمة ، و عليه يدل عموم الأية و الحديث»[٦٨]

**د كرهنې د زكات اندازه :**

هغه ځمكې كومې چه د باران ،سيند او چينې په اوبه اوبول كيږې 10% يا لسمه برخه او هغه ځمكې كومې چه د واترپمپ يا نورو تجهيزاتو په وسيله خړوبول كيږي په هغه ځمكو كې بيا د زكات اندازه 5% يا شلمه برخه ده.

**د كرهنې زكات پر چا واجب دى ؟**

كه چا خپله ځمكه په اجاره وركړې وي نو عشر پر چا باندې فرض دى ؟

اول : د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد كه څوک ځمكه په اجاره ونيسي عشر په مالک د ځمكې واجب دى ځكه د وجوب د پاره اصل ځمكه ده نه اجاره چې په مثل د اجرت دى.

دوهم : د امام يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد عشر په اجاره نيونكي واجب دى ځكه عشر اصلاً په حاصلاتو باندې واجب

[٦٨]ـ فقه السنة و ادلته و توضيح مذاهب الأئمة – زكاة الزروع و الثمار .

دى او حاصلات اجاره نيونكي اخيستي دي[٦٩].

فقه الاسلامي وادلته د امام صاحب په قول فتوى وركړي ده:

لكن الفتوى على قول الإمام، وعليه العمل؛ لأنه ظاهر الرواية (فقه الاسلامي وادلته -زكاة الأرض المستأجرة)

او دريم قول دا دى چې عشر په دواړو لازم دى هم په د ځمكې واله او هم په بزګر هر يو به د خپلو برخو مطابق عشر وركوي[٧٠].

## په عسل (شاتو) باندې زكات شته ؟

د امام ابوحنيفه او امام أحمد رحمهم الله په نزد په شاتو كې زكات فرض دى په دليل د دغه احاديثو :

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو ﵁ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « أَنَّهُ أَخَذَ مِنْ الْعَسَلِ الْعُشْرَ»[٧١]

وعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى عَنْ أَبِي سَيَّارَةَ الْمُتَعِيُّ ﵁ قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، إِنَّ لِي نَحْلا ، قَالَ : أَدِّ الْعُشْرَ . قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، احْمِهَا لِي ، فَحَمَاهَا لِي[٧٢].

په شاتو كې د زكات اندازه عشر دى يعني لسمه برخه .

---

[٦٩]- البدائع الصنائع : ٥٦/٢ و فتح القدير :٨/٢ .
[٧٠]- فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٨ ص ١١۶ .
[٧١]- رواه ابن ماجه :١٨٢۴ ،
[٧٢]- رواه ابن ماجه :١٨٢٣ .

**د عشر پر ځای ماليات وركول سره عشر ادا كيږي ؟**

نه هيڅكله نه ، زكات د الله تعالى حكم دى او ماليات د حاكم يا حكومت حكم دى ، د مالياتو په وركولو سره زكات نه ادا كيږي .

قال علماء اللجنة الدائمة للإفتاء :

"لا يجوز أن تحتسب الضرائب التي يدفعها أصحاب الأموال على أموالهم من زكاة ما تجب فيه الزكاة منها ، بل يجب أن يخرج الزكاة المفروضة ويصرفها في مصارفها الشرعية ، التي نص عليها سبحانه وتعالى بقوله : ( إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ ) الآية" انتهى[٧٣] .

يعني : دا جواز نه لري چې څوک ضرائب يا ماليات د زكات په اموالو كې حساب كړي بلكې په هغه باندې دا فرض ده چې د خپل مال زكات ادا كړي او هغه د اسلام موافق مصرف كړي كوم چې الله جل جلا له ور باندې امر كړى دى : إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ ) الآية"

والأصل في فرض الضرائب على الناس أنه محرم ، بل من كبائر الذنوب ، ومتوعد فاعله أنه لن يدخل الجنة ، وقد جاء في السنة النبوية ما يدل على أن الضريبة أعظم إثما .

---

٧٣- فتاوى اللجنة الدائمة : ٢٨٥/٩ .

اصلاً پر خلكو باندې د مالياتو مقررول حرام دي ، بلكې دا د كبيره ګناهونو څخه دي ، ماليې اخيستونكي (چې توبه و نه باسي ) جنت نه شي داخليداى ، او نبوي سنت په دې باندې دلالت كوي چې دا لويه ګناه ده.

# شپږم فصل

## د خارویو زکات

هغه خاروي چه د تجارت لپاره وي د تجارتي اموالو د نصاب له رویه حسابیږي د زکات اندازه یې څلویښتمه حصه ده .

هغه خاروي او حیوانات چه د نسل د زیاتوالي او ډیرې کټې په لاس راوړلو لپاره ساتل کیږي نظر په لاندی شرطونو زکات ورباندی فرض دی.

1. چه د کال په زیاته موده کې په صحرا او ورشوګانو کی وخري.
2. کال ورباندې تیر شي.
3. د زکات نصاب ته ورسیږي.

داوښان نصاب 5

د میښو او غوایانو 30

د میږو او وزو 40

د زکات اندازه په لاندی جدولونو کی بیان شوی ده.

| داوښانو زکات | | |
|---|---|---|
| د زکات اندازه | له | تر |

| | | |
|---|---|---|
| زكات نشته | 1 | 4 |
| شاة واحدة (يوه ميږه يا يو پسه) | 5 | 9 |
| ٢ ميږى يا ٢ پسونه | 10 | 14 |
| ٣ ميږى يا ٣ پسونه | 15 | 19 |
| ٤ ميږى يا ٤ پسونه | 20 | 24 |
| بنت مخاض (يوه يوه كلنه جونګى) | 25 | 35 |
| بنت لبون (يوه دوه كلنه جونګى) | 36 | 45 |
| حقة (يوه درى كلنه اوښه ) | 46 | 60 |
| جذعة (يوه خلور كلنه اوښه ) | 61 | 75 |
| بنت لبون ( 2 دوه كلن اوښانې) | 76 | 90 |
| حقتان ( 2 درى كلن اوښانې) | 91 | 120 |

د 120 خخه پورته به د لاندې قاعدې موافق حساب كيږي :

په هرو 40 اوښانو باندې بنت لبون (دوه كلنه جونګى)

په هرو 50 اوښانو باندې حقة (يوه درى كلنه اوښه )

مثال :

150=50+50+50 (ثلاث حقتان )

180=50+50+40+40 (حقتان و بنتالبون )

200=50+50+50+50 (اربع حقتان ) .

كچيرې واجب شوې سن جوګى نه وې مثلاً په 36 اوښانو دوه دوه كلنه جوګى ده خو دا ورسره نه وي نو په ادنا دې عمل وكړي يو يوه كلنه جونګى او دوې مېرې دې وركړي او يا د دوو مېرو قيمت ادا كړي او يا دي په اعلى عمل وكړى يوه درى كلنه اوښه دې وركړي او د دوو مېرو قيمت ورخخه واخلي .

يادونه : مېره يا پسه به د شپږو مياشتو وي او كه وزه يا خرلسى وي هغه به د يو كال وي[٧٤] .

| د غويانو يا مېښو زكات | | |
|---|---|---|
| د زكات اندازه | له | تر |
| زكات نشته | 1 | 29 |
| تبع أو تبعة (ديوه كال خوسى او يا خوسى ) | باندى | 30 |

[٧٤] ـ فقه الزكاة الأكاديمية الأسلامية / دوكتور راشد بن عثمان الزهراني .

| | | |
|---|---|---|
| مسن أو مسنة (يو دوه كلن خوسى يا خوسى) | باندى | 40 |
| دوه يوكلن خوسي | باندى | 60 |
| درى يو كلن خوسى | باندى | 90 |
| دوه يوكلن او يو دوه كلن | باندى | 100 |

كله چې 60 يا تر هغه زيات شي نو د هرو 30 غوايانو باندې يو تبع (يو كلن خوسى ) او په هرو 40 غوايانو باندې يو مسن (دوه كلن خوسى يا خوسى ) .

مثال :

100=30+30+40 ( دوه يو كلن او يو دوه كلن خوسى ) .

120=40+40+40 (درى دوه كلن خوسي )

150=40+40+40+30 ( درى دوه كلن او يو يو كلن خوسى ) .

| د ميږو يا پسونو او وزو زكات | | |
|---|---|---|
| د زكات اندازه | له | تر |
| يو ميږه | 40 | 120 |

| | | |
|---|---|---|
| دوی میږی | 121 | 200 |
| دری میږی | 201 | 399 |
| څلور میږی | | 400 |
| ورسته د هرو سلومیږو پر زیاتوالی یوه میږه ور اضافه کیږی | | |

**د اسونو خرو او قچرو زکات:**

څرنګه چه نومړي حیوانات د بار لپاره دی زکات وربانِدی نشته.

خو که د تجارت په نیت وي حساب یې د تجارتی اموالو د نصاب له مخې کیږي چې څلویښتمه برخه زکات ور کول کیږي ، یا د هر حیوان پر سر یو دینار زکات ور کول کیږي.

خو که د اسونو د نسل زیاتوالی موجود وي یعنی یواځې نر نه وي او د کال په زیاته موده کې په صحرا کې وخري زکات وربانِدې شته ( مسلک امام ابوحنیفه رحمه الله ).

د زکات نصاب همغه د تجارتي اموالو په شان دی یا د هر آس پر سر یو دینار زکات ور کول کیږي.

## په زكات كې څنګه څاروي وركول پكاردي ؟

په زكات كې به داسې څاروى نه وركوي چې هغه غيب جن وي او يا ډېر ډنګر او نا توانه وي په دليل د دغه حديث شريف : «لايحل مال امرئٍ مسلم الا بطيب نفس منه » .

او همدارنګه هغه څاروى چې د شيدو لپاره كور كې ساتي او نه هم هغه چې حمل ولري او د حمل د زږېدو وخت يې وي او نه هم هغه څاروى چې چاغ وي د غوښو لپاره يې ساتلى وي په زكات كې نه وركوي څكه په حديث شريف كې راغلي : «فاياک وكرائم أموالهم » .

يعني نه هغه د اكرام مالونه وركوي او نه هغه مالونه وركوي چې بد او عيب جن وي بلكي د دواړو په مينځ وسط وي .

څكه چې بنده چې د خپل مال څخه ښه مال وركړي د تقرب الى الله سبب ګرځي .

(لن تنالو البر حتى ....) .

او بل د اعلى وركول جايز دي كچېرې په ښه زړه وي څكه جناب رسول صلى الله عليه وسلم هغه كس ته چې د ابنة مخاض پر ځاى يو ښه چاغه اوښه وركړه د بركت دعا كړې ده .

او بل اصل دا دی چې په زكات وركولو كې به ښځينه څاروی وركوي يوازې غوايان چې شمير يې 30 ورسيږي مستثنی دی خوسی او خوسۍ دواړه وركول جايز او همدارنګه په اوښانو كې كچيږي بنت محاض نه وي د هغه پر ځای ابن لبون وركول جايز دي نور به د زكات په څارويو كې ښځينه څاروي وركوي مګر كچيږي ټول نارينه وي نو باك نلري چې نارينه څاروي وركوي .

او كه څوك پخپل ملكيت كې ټول واړه ولري د واجب سن واله نه وي نو همدا واړه دې په زكات كې وركړي ځكه همدا يې قدرت دی .

او كه څوك پخپل ملك كې څه لوی ، څه واړه ، څه جوړ او څه ناروغ ولري څه به كوي ؟

هغه به د روغو او ناروغو اوښان قيمت حساب كړي او د هغه له مخې دې زكات ادا كړي[٧٥].

**اوكه مالداری كې شريكان وي :**

په څارويو كې شراكت دوه ډوله دی : خلطة أعيان او خلطة أوصاف .

[٧٥]- فقه الزكاة – الاكاديمية الاسلامية / شيخنا دوكتور راشد بن عثمان .

خلطة أعيان : دا چې د دوو کسانو تر مینځ مال شریک وي او هغه نه یو وفات شي او بیا د هغه حصه خپلو وارثانو ته ورکړي نو شرکت أعیان بلل کیږي چې دواړه یو ملک بلل کیږي .

خلطة أوصاف : دا چې په څارویو کې څو کسان شریک وي او که د دوی څاروي سره جمع شي نصاب ته رسیږي په لاندې شرطونو زکات ورباندې واجبیږي :

١- دا چې په نصاب کې سره شریک وي .

٢- دا چې په څرېدونکو څارویو کې شریک وي .

٣- دا چې ورشو ، د آرام ځای ، شپون یې یو وي او په ټول کال کې یا د کال په زیاته برخه کې سره شریک وي ، نو د زکات حکم یې داسې دی لکه د یو کس .

زکات به د خپلو حصو موافق ورکوي مثلاً د یو شریک 10 پسونه او د بل شریک 30 پسونه دي نو صدقه یې یو پسه دی چې د 10 پسونو په څښتن باندې څلورمه برخه ده .

شریکت یوازې په صحراء کې څرېدونکو څارویو باندې تأثیر لري په نورو شیانو لکه نقدي پیسې ، تجارتي اموالو او د ځمکې حاصلاتو باندې تأثیر نلري .

# اووم فصل

## د زكات مصارف

**د زكات مستحقين :**

د زكات د مستحقينو ( زكات چاته وركړشی يا د زكات د مصرف ځايونه ) په اړه چه زكات كومو كسانو ته وركړ شي الله سبحانه وتعالى په قرآنكريم كې داسې حكم كړی دی :

[إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ][٧٦]

ژباړه : بې شكه چې وركړئ (زكاتونه او صدقات) د فقيرانو او مسكينانو او د زكات ټولونكو ، او دهغو لپاره چې زړونه خپلول يې اړين دي او بنديان او پوروړي او د الله ( د دين د پياوړتيا) په لار كې او د مسافرو د پالنې لپاره دي دا د الله (جل جلا له) د خوا نه فريضه ده او الله (جل جلا له) پوه او د حكمت خښتن دی .

**اول-فقراء:**

د دی نه مراد هغه خوك دی چه بالكل تش لاس نه وي خو داسې وي

---

[٧٦]- سورة التوبة : ٦٠ .

چه د بال بچ ضرورتونه يې نه پوره كيږي

او نه ورسره دومره مال يا دولت وي چې پخپله پرې زكات فرض وي .

**دوهم- مساكين** : هغه تش لاسي خلک دي چه د نفقې لپاره څه نه لري كه څه هم كسب او كار ته ډير لاس اچوي خو بيا هم څه وربانديې نه كيږي ، يا معيوب شوى وي يا ناروغه وي چه د كسب كار توان يې له لاسه وركړى وي .

پورته تعريف د حنفيه او مالكيه فقهاوو رحمهم الله دى د حنابله او شافعيه رحمهم الله په نزد فقير هغه دى چې بالكل تش لاسى وي او مسكين هغه دى چې څه مال لري خو ضروريات يې نه وربانديې رفع كيږي .

**دريم- عاملين** : د زكات ټولوونكي كسان دا خلک كه څه هم مالداره وي بيا هم د دوى د زحمت او د وخت ضايع كيدو له وجى زكات وركول كيداى شي .

عاملين دوه ډوله دي :

الف : هغه چې بيت المال څخه معاش نه وركول كيږي هغوى ته د زكات وركول جايز دي .

ب : هغه چې د بيت المال څخه معاش ورته مقرر وي هغوی ته زکات ورکول جايز نه دي .

**د عاملينو شرطونه :**

۱- مسلمان به وي .

۲- په امانت کې به عادل وي .

۳- د زکات په فقه به پوه وي .

۴- د زکات په انتقال ، ساتنه او حساب به قادر وي .

**څلورم- مؤلفة القلوب :** هغه کسان چه د دوی زړونه د اسلام طرف ته مايل شوي وي ، او د دوی د زړونو لاس ته راوړل مطلب وي .

مؤلفة القلوب ته د زکات ورکولو مقاصد :

الف : د شر د دفع لپاره .

ب : د دعوت الی الله لپاره .

ج : د ايمان د قوت لپاره .

د : د اهل د ايمان د اعانت لپاره .

دا چې مؤلفة القلوب به مسلمانانو وي او که کافران ؟ په دې باره کې اختلاف دی چې آيا دغه حکم د اسلام په پيل کې وو او که باقي دی ځکه په دې اړه د عمر ﷺ څخه يو اثر روايت شوی ، د امام ابو حنيفه او

امام شافعی رحمهم الله په نزد کافر ته د زکات ورکول نشته ځکه جناب رسول الله علیه وسلم چې کفارو ته زکات ورکړی د اسلام د غربت دوره وه ، مسلمانان کم او دوښمان يې زيات وو او کله چې اسلام قوي شو نو دې ته ضرورت پاتې نشو او خلفای راشدينو دا کار نه دی کړی د امام مالک او امام احمد په نزد کافر ته د پورته مقاصدو لپاره زکات ورکول جايز دي .

جاء في فقه الاسلامي وادلته :

وقال الحنفية والشافعية: لا يعطى الكافر من الزكاة لا لتأليف ولا لغيره، وقد كان إعطاؤهم في صدر الإسلام في حال قلة عدد المسلمين وكثرة عدوهم، وقد أعز الله الإسلام وأهله، واستغنى بهم عن تألف الكفار، ولم يعطهم الخلفاء الراشدون بعد رسول الله صلّى الله عليه وسلم ، قال عمر ﷺ: «إنا لا نعطي على الإسلام شيئاً، فمن شاء فليؤمن، ومن شاء فليكفر»

فقال الحنابلة والمالكية: يعطون ترغيباً في الإسلام؛ لأن النبي صلّى الله عليه وسلم «أعطى المؤلفة من المسلمين والمشركين»[٧٧] .

او د مسلمان مؤلفه لپاره د لاندې مقاصدو لپاره زکات ورکول کيږي :

---

[٧٧]- فقه الاسلامي وادلته / دوکتور وهبة زحيلي .

١- په اسلام کې د ضعيف حالت او ضعيف نيت څښتنان تر څو يې نيت او اسلام قوي شي.

٢- د قوم مشر او شريف کس ته د زکات ورکول تر څو د هغه په وجه په قوم کې اسلام خپور شي .

٣- هغه مسلمان چې کفارو ته نږدې سرحدي سيمي کې ميشت وي په دې خاطر ورکول کيږي چې د کفارو د شر او ضرر پر وړاندې ودريږي .

٥- **رقاب** : هغه کسان چه د نورو په قبضه کې راغلی وي ، مثلاً د جنګ بنديان ،مريان يا د چا په قرض کی ګرفتار کس .

٦- **غارمين** : کوم خلک چه داسې پوروړي يا په څه وجه تاواني شوي وي چه د قرض د ادا کولو توان ونه لري دا ډله هم د زکات له مستحقينو څخه ده .

پوروړي دوه قسمه دي :

المديون لاصلاح أنفسهم : هغه چې ځان لپاره يې قرض کړی وي .

المديون ذات البين : هغه چې د نورو لپاره قرض کړی وي .

دواړه قسمه د زکات مستحق دي[٧٨] .

[٧٨]- فقه الزكاة – الاكاديمية الاسلامية / دوكتور راشد بن عثمان .

**٦- فی سبیل الله :** هغه کسان چه د الله (ﷻ) د دین د لوړوالي لپاره جهاد کوي ، دعوت کوي او یا پر کومه بله طریقه یې د دین نصرت ته ملا تړلې وي د زکات مستحقین دي .

مګر د جمهورو فقهاؤ قول دا دی چې فی سبیل الله څخه مراد جهاد دی.

**٧- ابن سبیل :** که کوم مسافر وي چه د سفر پر وخت محتاج یا له څه مشکل سره مخ شوی وي که څه هم په خپل کور کې مالدار وي د زکات مستحق دی .

د مسافر شرطونه :

١- مسلمان به وي .

٢- د هاشمي خاندان څخه به نه وي .

٣- دی به د سفر په حالت کې احتیاج وي او د وصول او حوالی کومه لاره به نه لري .

**لاندې کسان که غنیان هم وي زکات ورکول جایز دي :**

١- مدیون ذات بین ( نورو لپاره پوروړی) .

٢- غازي د الله تعالی د لارې مجاهد .

٣- عامل (د زکات ټولونکی ) .

۴- مؤلف [٧٩].

## كوموكسانوته د زكات وركول جوازنلري ؟

١ -غني او د كسب او كار ور كس ته زكات وركول جواز نلري.

غني هغه كس دى چې محتاج نه وي او يا هم د نصاب خاوند وي هغه ته د زكات وركول جواز نلري.

او هغه كس چې د كسب او كار ورتيا ولري زكات وركول ورته جواز نلري په دليل د دغه حديث شريف « ولا حظ فيها لغنيٍّ ولا لقويٍّ مكتسبٍ» [٨٠].

مګر كه يو كس كسب او كار تر سره كوي مګر احتياج يې نه وربانديې رفع كيږي او يا دا چې د كسب او كار لپاره هلې ځلې كوي مګر كسب او كار ورته نه پيدا كيږي نو هغه ته د زكات وركول جايز دي ځكه د فقير او مسكين په ډله كې حسابيږي [٨١].

٢ -بنو هاشم ته د زكات وركول جواز نلري.

په دليل د دغه حديث شريف :«إن الصدقة لا تنبغي لآل محمد إنما هي أوساخ الناس»

---

[٧٩]- فقه الزكاة – الاكاديمية الاسلامية / دوكتور راشد بن عثمان.

[٨٠]- أبو داود (١٦١٧)، والنسائي (٥/ ٩٩).

[٨١]- قال دوكتور راشد بن عثمان في فقه الزكاة : الغني لا يجوز أن يأخذ من هذه الزكاة، ولا يجوز أن تخرج له، القوي المكتسب الذي يستطيع أن يعمل أيضًا لا يجوز أن تخرج له الزكاة، إلا إذا كان عمله لا يجلب له من المال ما يسد حاجته، وحاجة من يعول.

او بنو هاشم د علي ﷺ آل (كورنى ) د عقيل كورنى ، د جعفر كورنى ، د عباس كورنى او د حارث له كورنى څخه عبارت دي.

٣ -كافر ته زكات وركول جواز نلري.

۴ -والدينو ته زكات وركول جواز نلري.

خپل پلار ، نيكه ، مور ته زكات وركول جواز نلري ځكه د پلار ، نيكه او مور نفقه پر اولاد باندې واجب ده ، نفقه او زكات نشي جمع كيداى كچېرې زكات وركړل شي د نفقې د وجوب حق يې ساقطيږي.

۵ -خپلو اولادونو ته زكات وركول جواز نلري ځكه د اولاد نفقه ورباندې واجب ده.

۶ -خپلې ښځې ته زكات وركول جواز نلري ځكه د ښځې نفقه واجب ده.

د امام ابوحنيفه په نزد ښځه خپل خاوند ته زكات نشي وركولاى[٨٢] .

مګر د صالحبانو په نزد كچېرې خاوند محتاج وي نو ښځه خپل خاوند ته زكات وركولاى شي[٨٣] .

٧ -هغه كسان چې په ده يې نفقه واجب وي هغه ته د زكات وركول جواز نلري.

---

٨٢- درالمختار :٢/٩٠ .

٨٣- بدائع الصنائع :٢/۴٠ .

د پورته خپلوانو څخه علاوه ټول هغه خپلوان چې په ده يې نفقه واجب نه وي لکه: ورونه او خويندې ، خاله ، عمه ، ماما ، تره ، د تره زوی ، خسر او نور خپلوانو ته زكات وركول جايز دي او خپلوانو ته د زكات وركول دوه اجرونه لري د زكات اجر او د صله رحمی اجر.

جاء في فقه الاسلامي وادلته :

ويجوز دفع الزكاة إلى بقية الأقارب الفقراء غير المذكورين كالأخ والأخت والعمة والعم والخالة والخال ونحوهم، لحديث الطبراني عن سلمان بن عامر: «الصدقة على المسكين صدقة وهي لذي الرحم اثنتان: صدقة وصلة» بل إن القرابة أحق بزكاة المزكي، قال مالك: أفضل من وضعت فيه زكاتك قرابتك الذين لا تعول.

مګر نفلي صدقات بيا خپلو والدينو ، اولاد ، ښځې او نورو ته وركول جايز دي[٨٤] .

[٨٤]- بدائع الصنائع :٢/٥٠ .

# آتم فصل

## د فطر زكات (سرسايه)

**د فطر د صدقې معنى :**

د فطر لغوي معنى ده روژه ماتول او د فطر صدقې معنى ده د روژې ماتولو صدقه او په اصطلاح کې د فطر له صدقې نه مراد هغه واجبه صدقه ده چې د روژې د مبارکې مياشتې په ختميدو او روژې ماتولو باندې ورکول کيږي .

**د فطر د صدقې حکمت او ګټې :**

اول دا چې کله مسلمان د رمضان روژه ونيسي نو دده په زړه کې خوشحالي او د الله ﷻ د شکر جذبه پيدا شي چه يا الله ! شکر ستا په فضل مې د رمضان روژه ونيوله نو دغه صدقه فطر به يوه شکرانه شي د غريبو او بې وسو به امداد ورباندې وشي .

دوهم دا چې که په روژه کې له سړي څخه څه خطاګانې شوى وي نو صدقه فطر به د هغه کفاره شي .

د حضرت عباس ﷺ نه روايت دى چې : رسول الله صلي الله عليه وسلم د فطرصدقه ددې لپاره مقرره کړې ده چه هغه روژه نيوونکى د عبثو او بى ګټى کارونو او د بې حيا لغزشونو څخه پاک کړي او د غريبو بې

وسو د خوراک څښاک څه چاره وشي ، نو ځوک چه د اختر د لمانځه نه مخکې سرسایه ورکړي هغه به د قبلیدو عزت تر لاسه کړي او ځوک یې چې د اختر تر لمانځه ورسته ورکړي هغه به د یوه عام خیرات اوصدقې په شان وي [85].

## د فطر صدقې حکم :

د فطر صدقه په هر هغه مسلمان سړی ،ښځه او نابالغ باندې واجب ده چې د خپلو اصلي ضرورتونو علاوه د دومره مال لرونکی وي چه د زکات نصاب ته ورسیږي دا چې پر دغه مال باندې زکات واجبیږی او که نه .

په دلیل د دغه حدیث شریف :«لا صدقة الا عن ظهر غني » [86]

د امام شافعی او امام مالک په مذهب کې که ځوک د یو شپې او ورځې د تیرولو توان ولري صدقه فطرورباندې واجبه ده .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دی : «ألا ان صدقة الفطر واجبة على كل مسلم :ذكر أو أنثى أو عبد ، صغير أو كبير ..» [87]

---

[85]- رواه ابؤداود :١٦٠٩ و ابن ماجه :١٨٢٧ بالسناد حسن .
[86]- صحيح البخاري :١٤٢٦ .
[87]- رواه الترمذي :٦٦٩ .

ژباړه: خبر اوسئ ! د فطر صدقه پر هر مسلمان باندی واجب ده ،هغه که نر وي او که ښځه ،آزاد وي که مریی بالغ وي او که نابالغ .

**د فطرصدقې د ادا کیدو وخت :**

د صدقه فطر د ادا کولو وخت خو د اختر د لمانځه نه مخکې دی لیکن غوره دا ده چې د اختر څخه دوه دری ورځې مخکې اداء شي د پاره ددې چې مستحقین په دې سره خپل ضروریات پوره کړي او د اختر لپاره به دوی هم څه برابر کړي وي .

خو ضرور ده چې د اختر تر لمانځه مخکې ورکړ شي .

**صدقه فطر د کومو خلکو د طرف نه ورکول واجب دي :**

په کومو کسانو چه صدقه فطر واجب ده هغه به د خپل ځان او خپل نابالغه اولاد صدقه فطر ورکوي .

په مور باندې د اولاد صدقه فطر لازمه نه ده ، همدارنګه د ښځې او بالغ صدقه فطر پر سړي لازمه نه ده که ښځه وس ولري که خپله صدقه پخپله ورکړي ثواب لري او که وس ونه لري نو بیا به د هغه خاوند د خپلی بی بی صدقه فطر ورکوي .

**د فطر د صدقې اندازه :**

د احنافو په نزد د فطر زکات په پنځه شیانو کې واجب دی : غنم ، وربشي ، خرما او ممیز ، او اندازه يې نیم صاع غنم او یا یو صاع وربشي ، خرما او ممیز دي.

صاع د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عهد د پیمانې د لوښي نوم دی چې په وزن کې د فقهاؤ تر مینځ اختلاف دی.

صاع د امام ابوحنیفه او امام محمد په نزد (8)عراقي ارطال او یو عراقي ارطال (130) درهم دی چې مساوي کیږي له (3800) ګرامه سره ، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په مد او دوه رطله اودس کولو او یو صاع یا (8) ارطال به يې غسل کولو.

نو د نیم صاع وزن (1900) ګرامه کیږي.

او ځنې فقهاؤ بیا یو صاع (2175 ) ګرام سره مساوي بللی دی دا اندازه دوکتور وهبة الزحیلي او هیئت شرعي لبیت الزکاة ټاکلی دی .

احتیاطاً 1900 ګرامه یا 1.9 کیلو ګرام په نظر کې نیسو.

مګر د کومو کسانو چې اقتصاد ښه وي ممیز یا خرما دې په نظر کې ونیسي ځکه چې دا د فقیرانو په ګټه او قیمت يې زیات راځي.

قال الحنفية : تجب زكاة الفطر من أربعة أشياء: الحنطة والشعير والتمر والزبيب، وقدرها نصف صاع من حنطة أو صاع من شعير أو تمر أو زبيب، والصاع عند أبي حنيفة ومحمد ثمانية أرطال بالعراقي، والرطل العراقي مئة وثلاثون درهماً، ويساوي ٣٨٠٠ غراماً؛ لأنه عليه السلام كان يتوضأ بالمد رطلين، ويغتسل بالصاع ثمانية أرطال، دفع القيمة عندهم: يجوز عند الحنفية أن يعطي عن جميع ذلك القيمة دراهم أو دنانير أو فلوساً أو عروضاً أو ما شاء.[٨٨]

**د فطرصدقه چا ته ورکړل شي :**

د زکات د مصرف چې کوم ځایونه دی په همغو ځایونو کې صدقه فطر هم ورکول کیږي .

## الركاز (میندل شوي خزانه )

رکاز شرعاً هغه مال ته وایي چې په ځمکه کې دفن او خښ شوی وي او څوک یې پیدا کړي په شرط ددې چې دا مال او خزانه د اسلام څخه مخکې جاهلیت څخه وي او کچیرې داسې نښې نښانې وربادنې وي چې دا خزانه شوی مال د مسلمانان وي نو بیا د رکاز حکم نلري بلکي د لقطة (میندل شوي مال) حکم لري .

---

[٨٨]- فقه الاسلامي وادلته ،البدائع: ٢/٧٢ ومابعدها، الفتاوى الهندية: ١/١٧٩، فتح القدير: ٢/٣٦-٤١ .

په ركاز كې نصاب او د كال پوره والى شرط نه دى بلكي كه لږ وي يا ډير د خزانې په پيدا كوونكي باندې خمس (پنځمه حصه ) وركول واجب دي[89] .

په دليل د دغه حديث شريف : «... و المعدن جبار ، وفي الركاز الخُمس »[90]

ركاز د چا حق دى ؟

د جمهورو فقهاوو په نزد كچېرې ځوک د چا په كور يا مملوكه ځمكه كې خزانه پيدا كړي د ملكيت صاحب ته به حواله كيږي او ځنې فقهاء وايي د پيدا كوونكي حق دى .

ذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ وَالْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ فِي رِوَايَةٍ إِلَى أَنَّ الرِّكَازَ الْمَوْجُودَ فِي دَارٍ أَوْ أَرْضٍ مَمْلُوكَةٍ يَكُونُ لِصَاحِبِ الدَّارِ وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى عَنْ أَحْمَدَ أَنَّهُ لِوَاجِدِهِ[91] .

**د زكات مصرف :**

د ركاز پنځمه برخه به د غنيمت او فى پشان مصرفيږي

[89]- الموسوعة الفقهية :١٠٢/٢٣ .
[90]- رواه البخاري :١٤٩٩ و مسلم : ١٧١٠ .
[91]- الموسوعة الفقهية : ١٠٧/٢٣ .

ذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ ( الْحَنَفِيَّةُ وَالْمَالِكِيَّةُ وَالْمَذْهَبُ عِنْدَ الْحَنَابِلَةِ وَبِهِ قَالَ الْمُزَنِيُّ مِنَ الشَّافِعِيَّةِ ) إِلَى أَنَّ خُمُسَ الرِّكَازِ يُصْرَفُ مَصَارِفَ الْغَنِيمَةِ وَلَيْسَ زَكَاةً . وَمِنْ ثَمَّ فَإِنَّهُ حَلالٌ لِلأَغْنِيَاءِ وَلا يَخْتَصُّ بِالْفُقَرَاءِ ، وَهُوَ لِمَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ ، وَلا يَخْتَصُّ بِالأَصْنَافِ الثَّمَانِيَةِ [٩٢].

[٩٢] - الموسوعة الفقهية :١٠٨/٢٣

# نهم فصل

## د زكات مسائل

### د زكات څو مهم مسائل

### د معاش د پيسو زكات څنګه ادا کيږي ؟

ځواب: کله چې مال نصاب ته ورسيږي (595) ګرام سپينو زرو قيمت ته او کال ورباندې تير شي زكات ورباندې فرض دی .

لقوله سبحانه وتعالی :[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ][٩٣] .

ژباړه: ای مؤمنانو! لګوئ ! له حلالو ،پاکو د هغو مالونو چه( په کسب سره ) تاسې ګټلئ .

مطلب دا چې نقدي پيسی چې نصاب ته ورسيږي هغه کنز او پانګه بلل کيږي هغه که په مزدوری ، تجارت ، اجاره او نور هر قسم حلال کسب لاس ته راوړل شوې وي زكات ورباندې کيږي. مګر په اجناس کې دا خبره ده چې که د تجارت په نيت اخيستل شوې وي پانګه بلل کيږي په هغه کې هم زكات فرض دی .

و الله سبحانه وتعالی اعلم

---

[٩٣]- سوره البقره :٢٦٧ .

**د وقف د پاره جمع شويو پيسو کې زکات شته ؟**

ځواب: د جمهورو فقهاؤ نظر دا دی چې په نيت سره د وقف احکام نه جاري کيږي ، بلکې د وقف حکم هغه وخت مينځته راځي چې کله اهل وقف ته تسليم شي .

جاء في الموسوعة الفقهية:

اختلف الفقهاء في لزوم الوقف ، فذهب جمهور الفقهاء المالكية والشافعية والحنابلة في المذهب وأبو يوسف ومحمد من الحنفية إلى أن الوقف متى صدر ممن هو أهل للتصرف مستكملا شرائطه أصبح لازماً ، وانقطع حق الواقف في التصرف في العين الموقوفة بأي تصرف يخل بالمقصود من الوقف [٩٤].

او کله چې مال په وقف کې شامل شو نو په هغه باندې زکات نه واجبيږي ځکه چې هغه لره معين مالک نشته .

و جاء فی الموسوعة الفقيه – شرايط وجوب الزكاة :

الشّرط الأوّل : كون المال مملوكًا لمعيّنٍ : فلا زكاة فيما ليس له مالك معيّن ، ومن هنا ذهب الحنفيّة إلى أنّ الزّكاة لا تجب في سوائم الوقف ،

[٩٤] ـ الموسوعة الفقهية: ١١٩/٤٤ـ١٢٠.

والخيل المسبّلة ; لأنّها غير مملوكةٍ . قالوا : لأنّ في الزّكاة تمليكًا ، والتّمليك في غير الملك لا يتصوّر

د وقف لپاره جمع شویو پیسو باندې کچېرې کال تیر شي زکات وربانديې واجب او کله چې په وقف کې ولګول شي بیا نو زکات ساقطیږي.

و الله سبحانه و تعالی اعلم

## د تجارتي او دوراني پانګو د زکات حساب څنګه کیږي ؟

ځواب :د تجارتي او دوراني پانګې د زکات ادا کولو لپاره د کال آخر مبلغ معتبر دی .

د چا چې پانګه نصاب ته رسيدلې وي او د کال په مينځ کې څه نوره ګټه وکړي یا نورې پيسې ور سره یو ځای کړي د کال په آخر کې به د ټولې پانګې زکات ور کوي او ددې انتظار به نه کوي چې په فلاني مقدار مبلغ باندې کال نه دی پوره شوی بلکې داسې تصور به کوي چې په هغه باندې هم کال پوره شوی دی[٩٥] .

و من كان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول من جنسه ضمه اليه و زكاه به[٩٦] .

---

٩٥- كتاب زكات – فتاوى دارالعلوم ديوبند ، زيور جنتي ص ٢١٠ .

٩٦- شرح البدايه : ٧٥/١ .

لنده دا چې د تجارتي او دوراني پانګو د کال آخري حساب معتبر دی څه چې په پانګه کې زيات شوي وي هغه به ور سره جمع کيږي او که د کال په جريان کې څه تاوان شوی وي يا د ضروورياتو د پاره څه پيسې ځنې اخيستل شوی وي هغه خو هسې هم کمې شوی دي ، د کال آخر چې ټوله سرمايه څومره شوه د هغه زكات به د کال په پوره کيدو سره فوراً ادا کړي ، بې ضرورته د زکات ځنډول ګناه ده .

و الله سبحانه و تعالی اعلم

## د پور يا قرض زکات څنګه ادا کيږي ؟

ځواب :په شريعت کې پور يا قرض هغه پيسی يا کوم جنس دی چې د چا په ذمه پاتې وي.

د زکات د احکامو په لحاظ د پور يا قرض څلور صورتونه دي :

١- هغه چې چا د بل کس سره پور يا قرض کړی وي يا سوداګر د پيسو په بدل کې مال په مشتري خرڅ کړی وي او قرض د هغه په ذمه پاتې وي نو که دا رقم په يو ځل وصول شي نو د ټولو به زکات ورکوي او که د څو کالو نه پس وصول شي نو بيا به د ټولو کلونو زکات ورکوي.

او که لږ لږ وصول کيږي د همدې وصول شويو په اندازه به زکات ورکوي ، او که دومره کم وي چې د زکات د نصاب له پنځمې برخې هم

کم وي نو بیا په دې کې زکات نشته. دې ته په فقهی اصطلاح کې «الدين قوي» وايي.

٢- دوهم صورت دا دی چې څه مال يې خرڅ کړی وي خو دغه مال تجارتي مال نه وي په دې مال هم هغه وخت زکات واجب دی چې کله وصول شي او د نصاب اندازې ته ورسيږي او که لږ لږ وصول شي په هغې کې زکات نشته .دې قرض ته په فقهی اصطلاح کې «الدين وسط » وايي .

٣- بل د مهر قرضه ده چې د ښځې په خاوند پاتې وي يا د ميراث ، وصيت ، خلع او ديت مال په دغو مالونو کې هغه وخت زکات واجبيږي چې کله قبضه شي او پوره يو کال ورباندې تير شي

او دې ډول قرض ته په فقه «الدين ضعيف» وايي.

٤- داسې قرض چې تر لاسه کول يې ګران وي او د وصول کولو څه اميد يې نه وي پدی کې زکات نشته. البته که ناڅاپه وصول شي نو بیا به د پوره مودې زکات ادا کوي[٩٧].

دوکتور راشد بن عثمان په فقه اکادیمې اسلامي کې لیکي :

والصحيح من أقوال أهل العلم أنه إذا كان على مليءٍ قادرٍ فإنه يزكيه

[٩٧]- فقه الاسلامي وادلته، البدائع: ٢/١٠، الدر المختار: ٢/٤٧.

كل عامٍ، وإذا كان على جاحدٍ، أو على مفلسٍ، فلا زكاة عليه، إلا إذا قبضه يزكيه لعامٍ واحدٍ.

ژباړه: او د علماوو له اقوالو څخه صحيح قول دا دى كوم قرض چې توانا او قادر كس باندې وي د هغه زكات وركول هر كال واجب دى مګر كوم قرض چې په ناتوانه او مفلس وي د هغه زكات هغه وخت واجيبږي چې كله قبض شي او بيا به يوازې د يو كال زكات وركوي .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**د زكات ليږل له يو هيواد څخه بل هيواد ته څه حكم لري؟**

ځواب: له يو هيواد يا ښار څخه بل هيواد او ښار ته د زكات او يا صدقه فطر انتقال او ليږل د لاندې شرايطو په صورت كې جايز دي :

١ -چې هلته زكات او صدقه فطر ته احتياجات زيات وي.

٢ -چې هلته خپل محتاج اقراء او خپلوان وي .

٣ -چې د دارالكفر څخه دارالاسلام ته وي.

جاء في فقه الاسلامي وادلته:

قال الحنفية: يكره تنزيهاً نقل الزكاة من بلد إلى بلد آخر إلا أن ينقلها إلى قرابته المحاويج ليسد حاجتهم، أو إلى قوم هم أحوج إليها أوأصلح أو أورع أو أنفع للمسلمين، أو من دار الحرب إلى دار الإسلام، أو إلى طالب

علم، أو إلى الزهاد، أو كانت معجلة قبل تمام الحول، فلا يكره نقلها.
ولو نقلها لغير هذه الأحوال جاز: لأن المصرف مطلق الفقراء.[٩٨]
بخصوص نقل الزكاة وإخراجها من محل الوجوب:
الأصل أن توزع الزكاة في محل وجود المال، الذي وجبت فيه الزكاة.
ولكن لا مانع من نقلها إلى مناطق أشد حاجة، أو مناطق المجاعات والكوارث التي تصيب بعض المسلمين في العالم، أو إلى أقرباء المزكي المستحقين[٩٩] .

## د كور اخيستلو د پاره جمع شويو پيسو باندې زكات شته ؟

ځواب :كومې پيسې چې د كور اخيستلو په نيت ساتل شوې وي او كال ورباندې تير شوي وي په دغو پيسو باندې زكات فرض دى ځكه په دغو پيسو كال تير شوي او په حوائج اصليه كې نه دي مصرف شوى نو زكات پكې واجب دى ، كله چې مصرف شي يعنې د استوګنې د پاره كور ورباندې واخلي بيا زكات ساقطيږي .

« إذا أَمْسَكَهُ لينفق منه كل ما يحتاجه فحال الحول وقد بقي معه منه نصاب فإِنَّه يزكي ذلك الباقي، وإن كان قَصْدُ الإنفاق أيضاً في المُسْتَقْبل

---

[٩٨]- فقه الاسلامي وادلته – مصارف الزكاة .
[٩٩]- قرارات المجلس الإسلامي للإفتاء.

لعدم اسْتِحْقاق صرفه إلى حوائجه الأَصْلية وقت حولان الحول»[١٠٠]

و الله سبحانه وتعالى اعلم

## زكات د اولاد د واده مانع ګرځي ؟

ځواب :د اهل عيال نفقه د پلار په ذمه ده نو يواځې د دوى نفقه په اصلي حوائجو کې شامليږي او د نکاح مصارف په اصلي حوائجو کې نه شامليږي يعني د اولاد نکاح نه د زکات او نه هم د حج مانع ګرځي . بلکې که مالک نصاب وي زکات ورباندې فرض دى.[١٠١]

## کچيري د زکات مال هلاک شي ؟

ځواب : کچيري د زکات مال د زکات د وجوب وروسته هلاک او له مينځه لاړ شي زکات ساقيطيږي زکات ورباندې نشته .

إن هلك المال بعد وجوب الزكاة، سقطت الزكاة؛ كما أنه يسقط العشر وخراج المقاسمة؛ لأن الواجب جزء من النصاب، وتحقيقاً للتيسير، فإن الزكاة وجبت بقدرة مُيسِّرة أي بقاء اليسر إلى وقت أداء الزكاة، فيسقط الواجب بهلاك محله[١٠٢].

---

[١٠٠]- الدر المختار مع الرد:١١/٢.

[١٠١]- كفايت المفتي :٢٥٨/۴ ، هدايه :٢/۴۴۴ .

[١٠٢]- فقه الاسلامي وادلته ، فتح القدير: ١/٥١۴، الدر المختار: ٢/٢٨.

**د کارد وسائلو او سامان آلاتو د زکات مسائل**

**د شخصي استفادې د پاره موټرکې زکات شته ؟**

ځواب :هغه موټر چې د کور د پاره اخيستل شوې وي په هغه باندې زکات نشته او که د تجارت د پاره وي په هغه باندې زکات شته .

ابوداود روايت کوي چې جناب سول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

[إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَآله وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنْ الَّذِي نُعِدُّ لِلْبَيْعِ][١٠٣]

يعني : رسول الله صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَآله وَسَلَّمَ به مونږ ته د زکات ورکولو امر کولو په هغه څه کې چې د تجارت د پاره به مو ساتل

و فى الهندية: «و منها كون النصاب نامياً».

و فى الدر: «و لا فى ثياب البدن و اثاث المنزل و دور السكنى و نحوها».

والله اعلم بالصواب

**په درملتون او لابراتوارکې زکات شته ؟**

ځواب: درملتون پانګه بلل کيږي څکه چې درمل يې د تجارت او بيع د پاره وي که چيرې نصاب ته ورسيږي زکات ورباندې فرض دى

---

[١٠٣]- أبوداود -١٥٦٢، او طبراني په الكبير-٧٠٢٩.

په دليل د دغه حديث شريف :«إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَآله وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنْ الَّذِي نُعِدُّ لِلْبَيْعِ»

د لابراتوار په سامان باندې زكات نشته مګر د لابراتوار په عائداتو باندې كچيرې نصاب ته ورسيږي كال ورباندې تير شي زكات ورباندې فرض دى مګر خپله د لابراتوار په سامان او تجهيزاتو كې زكات نشته .

ولا دورالسكنى ونحوها اذا لم تنو للتجارت[١٠٤] .

وليس فى دورالسكنى ،وثياب البدن .... وسلاح الاستعمال زكوة لانها مشغولة بالحاجة الاصلية[١٠٥] .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**په اخيستل شوې ځمكه كې زكات شته ؟**

ځواب :كه دا ځمكه د تجارت په نيت اخيستل شوى وي نو په دې پانګه كې زكات واجبيږي د زكات په ادا كولو كې د كال آخري مقدار معتبر دى .

و من كان له نصاب فاستفاد فى اثناء الحول من جنسه ضمه اليه و زكاة به[١٠٦] .

---

١٠٤ـ درالمختار ٢/٢٦٥.
١٠٥ـ الهدايه كتاب زكاة ١/٢٨٦.
١٠٦ـ شرح البداية ١/٧٥ .

او كه دا ځمكه د بيع او تجارت په نيت نوي اخيستل شوي په هغه كې زكات نشته.

و في الدرالمختار: ولافي ثياب البدن و اثاث المنزل و دور السكني و نحوها.

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**په ظروف كرايي كې زكات شته ؟**

ځواب:ظروف كرايي كې زكات نشته ځكه دا د كار او كسب وسايل دي د بيع او تجارت د پاره نه دي د كار او كسب په وسائلو باندې زكات نشته .

وليس فى دورالسكنى ،وثياب البدن .... وسلاح الاستعمال زكوة لانها مشغولة بالحاجة الاصلية[١٠٧].

مګر د ظروف كرايي په آمد باندې زكات شته كه چيرې د ظروف كرايي آمد او كرايه دومره شي چې د زكات نصاب ته ورسيږي كال ورباندې تير شي په دغه آمد او پيسو كې زكات فرض دى .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

[١٠٧]- الهدايه كتاب زكاة ١/٢٨٦ - كفايت المفتي ج ۴ ص٢۵۶ .

**د استوګنې نه علاوه بل کور باندې زکات شته ؟**

ځواب :د اوسیدلو په کور او دکور په سامان باندې زکات نشته همدارنګه که بل اضافي کور وي خالي وي یا یې په کرایه ورکړی وي یا مارکیټ وي په کرایه یې ورکړی وي د تجارت نیت ونه لري زکات په کې نشته کرایه به له سرمایې سره یوځای کوي او زکات به یې ورکوي[١٠٨] .

مګر که کور یا د ځمکې نمره د تجارت په نیت اخیستل شوی وي په هغه کې زکات ورکول فرض دي :

د علماء البلدالحرام وایي:

په تجارتي مارکیټ (چې په کرایه ورکړ شوی وي ) او فابریکه هم زکات نشته په محصولاتو او تولیداتو یې زکات فرض دی لکه ځمکه په اصل ځمکه زکات نشته اګر چه سرمایه ده خو په محصولات یې زکات فرض دی .

که هر ډول تجارتي اموال وي ماشین آلات ، خوراکې مواد نور سامان آلات د تجارت لپاره اخیستل شوی زکات پکې فرض دی[١٠٩] .

و الله سبحانه وتعالی اعلم

[١٠٨]- کفایت المفتي ج ۴ ص ٢٦٥ – فتاوي المحمودیه.
[١٠٩]- د زکات د فتاوی دایمي تولنه ٢٩،٢٨ مکة المکرمه.

**د ځمکني محصولاتو د زکات مسائل**

**د زکات او مالیاتو ترمینځ څه فرق دی ؟**

ځواب: زکات د اسلام دریم ستر رکن دی چې الله (جل جلا له) پرغنیانو مسلمانانو باندې فرض کړی دی د مسکین ، فقیر ... جهاد د مرستې او تعاون لپاره.

زکات یو اهم عبادت دی چې الله (جل جلا له) په قرآنکریم په ډیرو آیتونو کې د لمونځ سره یو ځای ذکر کړی دی .

او مالیات د حکومت لخوا په خلکو باندې مقرریږي چې د زکات سره هیڅ تړاو نه لري .

مالیات د دولت لخوا مالي التزامات بلل کیږي چې هغه لګول خاص شرایط لري .

ځنې خلک چې مالیات ورکوي هغوی زکات نه ورکوي دوی ګمان کوي چې همدا مالیات به د زکات پر ځای کافي وي ، داسې نه ده زکات د الله (جل جلا له) امر دی او د مصرف ځایونه یې په قرآنکریم کې ټاکل شوی دي او مالیات د حکومت امر دی .

قال علماء اللجنة الدائمة للإفتاء :

"لا يجوز أن تحتسب الضرائب التي يدفعها أصحاب الأموال على أموالهم من زكاة ما تجب فيه الزكاة منها ، بل يجب أن يخرج الزكاة المفروضة ويصرفها في مصارفها الشرعية ، التي نص عليها سبحانه وتعالى بقوله : ( إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ ) الآية" انتهى .

يعني : دا جواز نه لري چې څوک ضرائب يا ماليات د زكات په اموالو كې حساب كړي بلكي په هغه باندي دا فرض ده چې د خپل مال زكات ادا كړي او هغه د اسلام موافق مصرف كړي كوم چې الله (جل جلا له) ور باندي امر كړى دى : إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ ) الآية"

والأصل في فرض الضرائب على الناس أنه محرم ، بل من كبائر الذنوب ، ومتوعد فاعله أنه لن يدخل الجنة ، وقد جاء في السنة النبوية ما يدل على أن الضريبة أعظم إثما [110].

اصلاً پر خلكو باندي د مالياتو مقررول حرام دي ، بلكي دا د كبيره گناهونو څخه دي ، مالي اخيستونكي (چې توبه و نه باسي ) جنت نه شي داخليداى ، او نبوي سنت په دې باندي دلالت كوي چې دا لويه گناه ده .

[110]- فتاوى اللجنة الدائمة" (٢٨٥/٩).

و الله اعلم

## په سبزيجاتوكې عشر شته اوكه نه ؟

ځواب:د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د ځمكې په ټولو پيداوارو كې لكه غلې دانې ، حبوبات ، ميوه جات او سبزيجاتو كې زكات فرض دى ، لعموم قول الله سبحانه وتعالى : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الأَرْضِ (البقره ٢٦٧ ).

ژباړه: اى مؤمنانو! لګوئ ! له حلالو ،پاكو د هغو مالونو چه ( په كسب سره ) تاسى ګټلي ،او له هغى چه ما تاسې لپاره د ځكمې نه راويستلى دي .

د امت جمهورو فقهاؤ او هيئة الشرعية لبيت الزكاة د امام ابوحنيفه قول راجح بللى او په همدې قول يې فتواى وركړې ده ځكه چې په قرآنكريم كې په عمومي ډول د ځمكي پيداوار ښودل شوى دي .

د ځمكني د پيداوارو د زكات اندازه لسمه برخه ده چې په همدې وجه عشر بلل كيږي .

او كه د تجهيزاتو واټرپمپ و غيره په وسيله اوبول كيږي شلمه برخه ده

.

«و يجب العشر عند ابى حنيفة ، فى كل ما تخرجه الارض»[111]

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**د باغ د ميوجاتو عشر په مالک لازم دی اوکه په اخيستونکي ؟**

ځواب:

که ځمکه چا په اجاره نيولې وي نو د کرهني زکات (عشر) په موجر وي او که مستاجر ؟

يو قول خو دا دی چې عشر په دواړو لازم دی هم په ځمکې واله او هم په بزګر هر يو به د خپلو حصو مطابق عشر ورکوي[112]

دوهم قول دا دی چې دا مسئله د خلکو په عرف او رواج پورې اړه لري هر کوم چې زيات حاصل واخيست عشر په هغه باندې لازم دی[113]

دريم قول دا دی چې : په دې زمانه کې عشر په مستاجر لازم دی ځکه موجر چې کوم اجرت اخلي ډير کم دی .

و في الدر: «و العشر على الموجر كخراج موظف و قالا على المستأجر كمستعير مسلم ، و في الحارى و بقولهما نأخذ .

[111]- هنديه ، كتاب الزكاة ١٨٦/١ .
[112]- فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٨ ص ١١٦ .
[113]- امداد الفتاوى – فى التنوير ٣٣٤/٢ .

و فى الرد: «(قوله: و بقولهما نأخذ....) قلْتُ: لكن في زماننا عامة الأوقاف من القرى والمزارع لرضا المُسْتأجر بتحمل غراماتها ومؤنها يستأجرها بدون أجر المثل بحيث لا تفي الأجرة، ولاأضعافها بالعشر أو خراج المقاسمة، فلا ينبغي العدول عن الإفتاء بقولهما في ذلك لأنَّهم في زماننا يقدرون أجرة المثل بناء على أنَّ الإجْرةَ سالمة لجهة الوقف ولا شيء عليه من عشر وغيره، أمَّا لو اعتبر دفع العشر من جهة الوَقْف وأن المستأجر ليس عليه سوى الأُجْرة فإنَّ أُجْرةَ المثل تزيد أضعافاً كثيرة كما لا يخفى، فإن أمكن أخذ الأجرة كاملة يفتى بقول الإمام، وإلاَّ فبقولهما لما يلزم عليه من الضَّرر الواضح الذي لا يقول به أحد،.»[١١٤].

و فى الفقه الاسلامى للزحيلى، بعد ذكر الاختلاف بين الامام وصا حبيه:«فان كان ايجاب الزكاة على المستأجر
أنفع للفقراء وجبت عليه و به افتى المتأخرون»[١١٥].

---

[١١٤]- ردالمحتار :٢/٦٠ .
[١١٥]- الفقه الاسلامي و ادلته:٢/٨٢٠.

## د زكات د مصرف مسائل

### د مدرسي جوړولو لپاره زكات وركول جايز دي ؟

ځواب:د جمهورو فقهاؤ په نزد زكات د مسلمانانو په عامو خيريه كارونو كې لګول جايز نه دي لكه : جومات ، مدرسه ، لاره جوړل او كلينك جوړول او نور بلكې ددې خير د پاره به د زكات څخه علاوه نور صدقات وركوي.

زكات يوازې اتو ډلو ته وركول كيږي ، لقوله سبحانه وتعالى :إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ( التوبه ٦٠ ).

ژباړه : بيشكه چې وركړې (زكاتونه ) د فقيرانو او مسكينانو او د زكات ټولولو اداري د كار كوونكو ، او هغو لپاره چې زړونه خپلول يې اړين دي ، او (بنديانو) په آزادولو كې او پوروړو او د الله ( د دين د پياوړتيا ) په لار كې او د مسافرو د پالنې د پاره دي دا د الله لخوا فريضه ده او الله پوه (او) د حكمت څښتن دى.

د في سبيل الله نه مقصد د جمهورو فقهاؤ په نزد جهاد دى.

فمن المصارف فِي سَبِيلِ اللَّهِ والراجح ما عليه جماهير الفقهاء من عدم جواز صرفه إلى عموم مصالح المسلمين من إنشاء الطرق والمستشفيات والمدارس والمساجد ونحو ذلك ، بل هذه المصالح توقف لها الأوقاف أو يتصدق عليها بالصدقات المختلفة سوى الزكاة ، وكلمة " وفي سبيل الله " تشمل القيام بشئون الدعوة من تبليغ الدين للمسلمين ولغير المسلمين ، سواء بالسنان أو باللسان ؛ فالسنان نلجأ إليه في وقت الصدام المسلح لدفع العدوان أو رفع الطغيان كما أمرنا ربنا في قوله تعالى :(وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ) (البقرة ١٩٠).

وسُئِلَت اللَّجنة الدائمة للإفتاء: هل يَجوز صرفُ الزَّكاة على المسجد لترميمه وفرْشِه، ونحو ذلك، من الزَّكاة؟

فأجابت: "أمَّا الزَّكاة، فهي مَخصوصة لثمان جهاتٍ، عيَّنها الله تعالى بقوله: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ(التوبة: ٦٠).

ومن ذلك يتَّضح: أنَّ المساجد ليستْ من الجهات الثَّمان المذكورة في الآية، والمحصورِ إخْراجُ الزَّكاة فيها،، والله أعلم.

فقدِ اتَّفق الجمهور على: أنَّه لا يَجوز صرْف الزَّكاة على بناء المساجد، ولا إصلاح الطُّرق والجسور والقناطر، ونَحو ذلك ممَّا لم يُذْكَرْ في الآية الكريمة، ولا شكَّ أنَّ المدرسة تدخل في هذه المذكوراتِ التي لا تُصرَف فيها الزَّكاة

و الله سبحانه وتعالى اعلم

## خپل مزدور ته زكات وركول جايز دي ؟

ځواب :هو فقير ته چې پوروړی وي زكات وركول جايز دي ، لقوله سبحانه وتعالى : [إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ ....][116]..

فقراء : د دی نه مراد هغه څوک دی چه بالکل تش لاس نه وي خو داسې وي چه د بال بچ ضرورتونه ئی نه پوره کيږي او نۀ ورسره دومره مال يا دولت وي چه پخپله پری زكات فرض وي.

مساكين : هغه تش لاسی خلک دي چه د نفقی لپاره څه نه لري كه څه هم كسب او كار ته ډير لاس اچوي خو بيا هم څه وربانددی نه كيږي ، يا معيوب شوی وي يا ناروغه وي چه د كسب كار توان يی له لاسه وركړی وي.

خپل مزدور ته د مزدوری څخه علاوه زكات وركول جايز دي ، مګر په

[116] ـ سوره التوبه : ۶۰ .

مزدورى کې د زکات ورکولو سره زکات نه صحي کيږي.

و الله سبحانه وتعالى اعلم

## د زكات وركولو په وخت كې د زكات يادول ضرورنه دي

ځواب: دا مهم نه ده چې د زكات د ادا په وخت كې د زكات مستحق كس ته وويل شي چې دا د زكات روپۍ واخله بلكې هغه د صدقې ، كومک ، شرينۍ او په كوم بل عنوان هم وركولاى شي خو داسې چې هغه مالک وګرځول شي او پوه شي چې دا د خيرات روپۍ دى نه د قرض حسنه و غيره او په پوره ډاډ سره يې مصرف كړي ، نيت يې د زكات وي او بل دا چې دغه كس د زكات مستحق وي[117].

(فتاوي دارالعلوم ديوبند )

فقه السنه ليكي :

علماء كرامو د لاندې قراني او نبوي صلى الله عليه وسلم ارشادات په رڼا كې د زكات او صدقاتو تقسيمول په پټه سره بهتره ګڼي.

[إِن تُبْدُواْ الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاء فَهُوَ خَيْرٌ لُّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ][118]

١١٧- فتاوى دارالعلوم ديوبند – باب زكات .
١١٨- سوره البقره : ٢٧١ .

ژباړه : كه تاسې خيراتونه ښكاره وركوئ نو دا هم ښه دى او كه خيراتونه پټ وركوئ او اړو خلكو ته يي وركوئ دا ستاسې لپاره غوره دي او له تاسې څخه ځني ګناهونه لري كوي او الله (جل جلا له) په هغو ټولو كارونو چې تاسې كوئ خبر دى .

په حديث شريف كې راغلي :اووه كسان به د قيامت په ورځ د عرش تر سيورې لاندې وي د هغه ډلې يو هم ( ورجل تصدق بصدقة فأخفاها، حتى لا تعلم شماله ما تنفق يمينه)، يعنې : يو سړى چې داسې په پټه صدقه وركړي چې چپ لاس خبر نشي چې په ښي لاس څه شى وركړى شوي دي[١١٩] .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

## خپل زوى اولور ته چې جلا اوسيږي زكات وركول جايزدي ؟

ځواب

په اقاربو كې فرق دى :خپل مور او پلار ،نيكه او نيا د پلار مور ، د مور مور ،او دينه پورته غور نيكه غره نيا ته زكات وركول جايز نه دي .

همدارنګه خپل زوى ،لور ،نمسي نمسى او تر هغه لاندې نورو فروعاتو ته زكات وركول جايز نه دي .

---

[١١٩]- فقه السنة – باب زكات .

ښځه خپل خاوند ته او خاوند خپلی ښځی ته زكات نشی وركولای .

كه پورته اقاريب مجبور او بې وسه وي په هغوى باندې به د زكات څخه علاوه انفاق او خرچ كوي .

او دغو خپلوانو ته لكه غريب او ناچاره خور چې كور يې جلا وي، ورور او تره ، د تره ځامن ، ماما او خسر ته (په شرط ددې چې د زكات مستحق وي ) زكات وركول جايز دي او په دې كې دوې ګټې دي

لومړى- د زكات اجر .

دوهم- صله رحمى (د خپلوانو سره ښه سلوک ).

و جاء فى فتاوى اللجنة الدائمة :

س: هل يجوز أن أعطي أختي زكاة مالي التي لا دخل لها غير معاش والدي المتوفى ؟

ج: إذا كانت أختك مستقلة في بيتٍ وحدها، عاجزة ما عندها ما يقوم بحالها، لك أن تعطيها الزكاة. أما إن كانت عندك في بيتك تنفق عليها، فلا، لا تعطها زكاتك، فهي واقعة في نفقتك عليها، وإن أنفقت عليها من مالك وأعطيت الزكاة لغيرها فهذا أحسن وأحوط إذا كنت قادرًا.

س: هل يجوز إعطاء الأخ جزءًا من الزكاة، زكاة المال، علمًا بأنه موظف، ولكن دخله لا يكفي لأسرته، جزاكم الله خيرًا

ج: لا حرج في ذلك إذا كان الأخ أو العم أو الخال فقيرًا، ومرتبه ضعيفًا لا يقوم بحاله، لا بأس أن يعطى من الزكاة، وهكذا ابن العم، أما الأب والأم والأولاد فلا يعطون من الزكاة، بل يعطون من مالك غير الزكاة، أما إن كان الأخ فقيرًا ضعيفًا، أو الخال أو العم أو ابن العم، أو ما أشبه ذلك من الأقارب فالصدقة فيهم من الزكاة صدقة وصلة، يعطون من الزكاة، يكون فيها أجران: أجر الزكاة وأجر صلة الرحم.

س: هل تجوز الزكاة في الأقارب مثل البنت والأخت، والعم والعمة؟ والدي يعطي كل سنة من الزكاة بناته وإخوته، وأخواته، وسمعت من قال: لا تجوز الزكاة في البنات؛ لأنهن سيرثن والدهن بعد موته، علمًا بأن أخواتي متزوجات، وبعضهن حالة زوجها المادية ضعيفة ؟

ج: الأقارب فيهم تفصيل، فإذا كان القريب من الفروع: كالأولاد وأولاد البنين، وأولاد البنات والبنات أنفسهن، لا يعطون من الزكاة، هذا الذي عليه أهل العلم، ولكن ينفق عليهم والدهم، إذا كانوا فقراء ينفق عليهم من ماله، وهكذا الآباء والأجداد والأمهات لا يعطون من الزكاة. أما بقية الأقارب كالإخوة والأعمام وبني العم وبني الخال وبني الخالة وأشباههم، فيعطون الزكاة إذا كانوا فقراء أو غارمين عليهم ديون لا يستطيعون أداءها؛

**د زكات نه وركونكي سره كاركول جايزدي ؟**

ځواب: څوک چې زكات نه وركوي د هغه سره معاملات كول او د هغه د هبې او سوغات قبلول جايز دي او زكات نه وركول د هغه د دين نقصان دى .

فالمعاملات لا يمنعها منع الزكاة، إذا كان الإنسان مانعاً للزكاة فهذا إسلامه ناقص، ومنع الزكاة أيضاً من الكبائر ، ومع ذلك : فلا يحرم التعامل مع مانع الزكاة أو قبول هديته ، لأن الزكاة تكون دَيْنا في ذمته ، ولا يكون ماله كالمال المغصوب أو المسروق الذي يحرم أخذه على كل من علم أنه[١٢٠] .

د زكات نه وركول عظيم جرم دى چې كه سړى توبه و نباسي د دينوي او اخروي سختو خطرناكو پايلو سره مخامخ كيدونكى دى :

دينوي سزا يې دا ده چې د ده په مال كې به بركت نه وي او په هغه باندې به آفتونه نازليږي :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : «مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ، إِلاَّ مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا».[١٢١]

---

[١٢٠]- فتاوى الاسلام سوال جواب .
[١٢١]- رواه البخاري :١٤٤٢ .

یعني : هر ورځ دوې ملائکې ځمکې ته را کوزیږي . یوه یې وایي : ای الله! څوک چې ستا په لار کې انفاق کوي هغې ته بدله ورکړې ، او بله یې وایي : ای الله! څوک چې ستا په لار کې انفاق (خرچ ) نه کوي د هغه مال هلاک کړه ، یعني د هغې مال تلف کړې .

او همدارنګه فرمايي : «من أدى زكاة ماله فقد ذهب عنه شره »[١٢٢]

یعني : چا چې د خپل مال زکات ورکړ ، د مال له شر او آفت نه په امن شو .

او همداسې اخروي سزا یې د زکات نه ورکولو وعیدونو کې بیان شو.

**د محتاجو خپلوانو ماشومانو ته د زکات او فطر ورکول جایز دي**

ځواب:که چیرې ماشوم د پوهې او عقل سن ته رسیدلی وي هغه ته د صدقې او زکات ورکول جایز دي او که د فهم او عقل سن ته نه وي رسیدلی هغه ته د زکات او صدقې ورکول جایز نه دي بلکې د هغه پر ځای به یې د هغه ولي او سرپرست ته ورکړي .

و فی الدر:«دفع الزكاة الى صبيان اقاربه برسم عيد أو الى مبشر أو مهدى الباكورة جاز».

[١٢٢]- طبراني او صحيح الترغيب – الألباني ٧٤٣.

و فی الرد:«(قوله: الی صبیان اقاربه)
أی العقلاء و الا فلا یصح الا بالدفع الی ولی الصغیر»[١٢٣].

و فی الرد:«(قوله:من بينهما ولاد) وقيد بالولاد لجوازه لبقية الأقارب كالإخوة والأعمام والأخوال الفقراء، بل هم أولى لأنه صلة وصدقة »[١٢٤].

والله سبحانه وتعالی اعلم

**د امامت په اجرت کې د فديې ،زكات او عشروركول جايزنه دي؟**

ځواب: زکات په اجرت کې ورکول جايز نه دي که څه هم د امامت اجرت وي .[١٢٥]

ځکه قرآنکريم د زکات او صدقاتو د مصرف ځايونه تعين کړی دي :
لقوله سبحانه وتعالی :[إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ][١٢٦] (التوبه ٦٠ ) .

که امام فقير او د زکات مستحق وي هغه ته د فقير او مستحق په نيت زکات يا سرسايه د امامت د اجرت پرته ورکول جايز دي.

---

[١٢٣]- الدر المختار :٧٦/٢ .
[١٢٤]- الرد المحتار:٦٩/٢.
[١٢٥]- تنوير و شرحه:٤/٢ كفاية المفتي:٢٩٤/٤.
[١٢٦]- سوره التوبه .

په اكثره مناطقو كې امامانو ته د اجرت په بدل كې عشر وركوي ، يا د تراويح د امامت په بدل كې فديه وركوي ، په دغه شان نه زكات ادا كيږي او نه هم امام ته دغه مال حلال دی بلكې هغه ته د دغه مال اخيستل حرام دي[١٢٧] .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

## كه سهواً غني ته زكات وركړشي زكات ادا كيږي ؟

ځواب :

اول : كه په بې خبرى كې چاته زكات وركړ شي خو وروسته سړى پوه شي چې دا كس خو د زكات مستحق نه دی زكات ادا شوی دوباره د زكات ادا كولو ته ضرورت نشته[١٢٨] .

په دې مسئله كې د احناف دليل دا حديث دی، لحديث معن بن يزيد قال: كان أبي يزيد أخرج دنانير يتصدق بها فوضعها عند رجل في المسجد، فجئت فأخذتها فأتيته بها، فقال: والله إياك أردت، فخاصمته إلى رسول الله ﷺ فقال: "لك ما نويت يا يزيد، ولك ما أخذت يا معن". رواه البخاري.

---

[١٢٧]- فقه حنفي ابوالمختار ص ٣٦٦ او مجالس حكيم امت اشرف علي تهانوي – عنوان په زكات كې حيلې جوړول ).

[١٢٨]- فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ١ ص ٣٢٩ .

دوهم : صاحب د نصاب لره د زكات او صدقاتو اخيستل مطلق حرام دي ، هغه به بيرته خپل مالک ته ورکوي او يا به هغه په فقيرانو او مسکينانو ويشي ده لره د هغه اخيستل حرام دي .

و لا الى غنى يملک قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلية من اى مال كان [129] .

و الله سبحانه و تعالى اعلم

## د زكات ماهواريا لږ لږ ورکول جايز دی ؟

ځواب: هو د زكات مستحق ته ماهوار يا لږ لږ زكات ورکول هم جايز دي .

كفايت المفتي ليكي : كه زكات يو ځاى ادا نشي نو ماهوار يې ادا كول هم جايز دي په آخر كې دي حساب وكړي . [130]

همدارنګه للجنة الدائمة ليكي :

وسئلت اللجنة الدائمة : هل يجوز لي إخراج زكاة المال مقدمة طول السنة ، في شكل رواتب للأسر الفقيرة ، في كل شهر ؟

ايا ما ته جايزه ده چي په پيشکى طور د كال زكات په ماهوار شكل فقيرانو ته وركړم ؟

[129] - درامختار : ١٨/٢ .
[130] - كفايت المفتي ج ٤ ص ٢٨١ – هنديه ج ٢ ص ٢٦٧ .

فأجابت : " لا بأس بإخراج الزكاة قبل حلول الحول بسنة أو سنتين إذا اقتضت المصلحة ذلك ، وإعطائها الفقراء المستحقين شهريّاً ." انتهى

ځواب : څه باک نه لري چې څوک د يو کال يا څو کلونو زکات پيشکي ورکړي ، کچېرته په دې کې مصلحت وي او هغه په مياشتنى ډول فقيرانو ته ورکړي .

و الله تعالى اعلم

## قرض يا پور په زكات كې مجرا كول جايز دي ؟

ځواب: د زکات په عوض کې د قرض معاف کولو سره زکات نه صحي كيږي .

و فی شرح التنوير:

«واعْلم أنَّ أداءَ الدَّين عن الدين والعين عن العين وعن الدين يجوز. وأداء الدَّين عن العين، وعن دين سيقبض لا يجوز. وحيلة الجواز أَنْ يعطي مديونه الفقير زكاته ثم يأْخذها عن دينه ، ولو امتنع المَدْيون مدّ يده وأَخَذَهَا لكونه ظفر بجنس حقه، فإن مانعه رفعه للقاضي »

و فی الرد:« (قوله: و اعلم) وفي صورتين لا يجوزالأولى أداء الدين عن العين كجعله ما في ذمَّة مَدْيونه زكاة لماله الحاضر»

الشيخ العثيمين رحمه الله د قرض مجرا کول په زکات کې د نا جایز والي د پاره لاندې دلائل په ګوته کړی دي :

اول- په زکات کې اخذ (اخيستل) وي لکه الله (جل جلا له) وايي د دوی له مالونو څخه صدقه واخله چې په زکات کې د قرض په مجرا کولو سره اخيستل نه وي بلکې عوض کول وي .

دوهمه وجه دا ده چې د زکات په وجه مال پاک ګرځي يعنې د پاک څخه خبيث او نا پاک شي ايستل کيږي يعنې د زکات څخه ايستل شوی برخه د مال ناپاکي وي ، نو کله چې قرض په زکات کې مجرا شي د ناپاک څخه به ناپاک ويستل شي چې داسې کول نا جايز دي بلکې د پاک څخه ناپاک ايستل کيږي .

الأول: أن الزكاة أخذ وإعطاء، قال تعالى: خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً. { التوبة: ١٠٣}. وهذا ليس فيه أخذ.

يعني الثاني: أن هذا بمنزلة إخراج الخبيث من الطيب، قال تعالى: وَلاَ تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ. ( البقرة: ٢٦٧ ).

ووجه ذلك: أنه سيخرج هذا الدين عن زكاة عين، ومعلوم نقص الدين عن العين في النفوس، فكأني أخرج رديئاً عن جيد وطيب فلا يجزئ.

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**مأخذونه :**

١- د قرآنكريم تفاسير

٢- د احاديثو كتابونه

٣- د فقهي كتابونه (الموسوعة الفقهية ، فقه الاسلامي وادلته ، درمختار ، شرح التنوير ، فقه السنه ، فقه على المذاهب الاربعه و مجمع فقه الاسلامي...).

٤- فتاوى ( محمود الفتاوى ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ، كفايت المفتي ، احسن الفتاوى ، فتاى اللجنة الدائمة ....).

٥- فقه المعاملات المعاصره .

٦- المعاملات المعاصره .

٧- فقه الزكات – اكاديمية الاسلامية .

٨- موقع هيئة الشرعية لبيت الزكاة .

٩- نوازل الزكاة / دوكتور عبدالله بن منصور .

٨- موقع هيئة الشرعية لبيت الزكاة

٩- نوازل الزكاة / دوكتور عبدالله بن منصور .

و ما توفيقي الا بالله عليه توكلت واليه انيب

و بالله توفيق